

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 6

بسم الله الرحمن الرحيم

۞ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا
١٤٨ إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا
١٤٩

۞ لَّا يُحِبُّ نه خوښوي ٱللَّهُ الله تعالى ٱلْجَهْرَ په لوړ اواز ويل بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ د بدو خبرو(چې تاسو يې د منافقانو،يهوديانو،نصرانيانو او مشركانو پسې خلكو ته كوئ.«په دې مبارک آيت كې الله تعالى ډېر لوړ اخلاقي درس مسلمانانو ته وركوي ځكه چې،منافقانو،يهوديانو او مشركانو به هر قسم خندونه د اسلام د خوريدلو د مخنيوي دپاره خلكو ته اچول،او چا به چې ايمان راوړئ وو هغوى ته به يې هم د قسم-قسم تكليفونو وركولو كوششونه كول،چې د كافرانو په دې كارونو باندې د مسلمانانو په زړونو كې نفرت او د غصې د پيدا كيدلو جذبات يو فطري كار وو،څرنګه چې الله تعالى د خپلو بندګانو په زړونو او نيتونو باندې پوه او خبر دى،نو الله تعالى مسلمانانو ته وفرمايل چې:بدې او خرابې خبرې د ستاسو د رب په نزد ښه كار نه دى او الله تعالى يې نه خوښوي، إِلَّا مګر مَن څوک ظُلِمَۚ چې په هغه ظلم شوئ وي(د ده حق دى چې خلكو او د وخت حاكم ته د ظالم ظلم بيان كړي او ظالم ته ښيرې وكړي) وَكَانَ او دى ٱللَّهُ الله تعالى سَمِيعًا اوريدونكئ عَلِيمًا (او)پوه ١٤٨

ليكن بيا هم افضله او بهتره خبره دا ده چې:تاسو په هر حال كښې ښه وكړئ،كه په پټه وي او كه په ښكاره،او د بدئ څخه تير شئ،تر څو چې تاسو په خپلو اخلاقو كې د خپل رب اخلاقو ته نزدې شئ،ځكه د كوم رب

نزدېکت چې تاسو غواړئ،د هغه «جل جلاله) شان دا دی چې:بې انتها حليم دی،د سختو نه سخت مجرمانو ته رزق،کورونه اولادونه او .......و غيره ورکوي،او ډېرې غټې او لويې خطاګانې معاف کوي او ترې تېرېږي،فلهذا د الله تعالی سره د نزدې کېدلو دپاره تاسو هم لوړه حوصله او عالی اخلاق پيدا کړئ،تر څو چې ستاسو د ښو اخلاقو اثر په انسانانو باندې وشي،او ستاسو د ښو اخلاقو په سبب د اسلام په دايره کې داخل شي.فلهذا نو!

إِن تُبْدُواْ خَيْرًا که تاسو ښکاره نيکي کوئ أَوْ تُخْفُوهُ يا يې پټه کوئ أَوْ تَعْفُواْ يا بخښنه کوئ عَن سُوٓءٍ د يوې بدی فَإِنَّ نو بيشکه ٱللَّهَ الله تعالی كَانَ دی عَفُوًّا بخښونکئ قَدِيرًا (او) قادر(يعنی ستاسو به يا د انتقام وسه کيږي او يا نه چې ښښنه کوئ؟مګر ستاسو رب د جزا د ورکولو د قدرت سره-سره عفوه او ښښنه کوي. ١٤٩

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيْنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه خلک يَكْفُرُونَ چې انکار کوي (يعنی کفر کوي) بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَرُسُلِهِۦ او په رسولانو د هغه«جل جلاله»باندې(يعنی يهوديان محمد «صلی الله عليه وسلم» او عيسیَ عليه السلام نه مني،او نصاری محمد«صلی الله عليه وسلم» نه مني) وَيُرِيدُونَ او غواړي أَن چې يُفَرِّقُواْ جداوالی وکړي بَيْنَ په منځ کې د ٱللَّهِ الله تعالی وَرُسُلِهِۦ او د هغه«جل جلاله» د پيغمبرانو(يعنی وايي چې مونږ په الله تعالی ايمان راوړئ دی،خو د الله

تعالی په ټولو پیغمبرانو باندې ایمان نه راوړي ) وَيَقُولُونَ او وايي
نُؤۡمِنُ چې مونږ ایمان لرو بِبَعۡضٖ په بعضو باندې وَنَكۡفُرُ او کفر
کوو بِبَعۡضٖ په بعضو باندې( د الله تعالی او د الله تعالی د پیغمبرانو
په منځ کې فرق کوي،یعنی یهود او نصاری د محمد« صلی الله علیه
وسلم» د پیغمبرۍ نه انکار کوي) وَيُرِيدُونَ او دوی غواړي أَن
چې يَتَّخِذُواْ ونیسي(یعنی جوړ کړي) بَيۡنَ ذَٰلِكَ په منځ د(اسلام او
کفر) کې سَبِيلًا (دریمه) لاره (یعنی غواړي چې د اسلام او کفر په
منځ کې دریم دین جوړ کړي) ١٥٠

أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡكَٰفِرُونَ کافران دي حَقّٗاۚ په
رښتیا سره(سوچه کافران دي) وَأَعۡتَدۡنَا او تیار کړئ دی مونږ
لِلۡكَٰفِرِينَ کافرانو ته عَذَابٗا عذاب مُّهِينٗا سپکوونکئ ١٥١ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ أُوْلَٰٓئِكَ سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٥٢

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی بِٱللَّهِ په
الله تعالی باندې وَرُسُلِهِۦ او د هغه«جل جلاله» په پیغمبرانو(باندې)
وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ او فرق یې نه وي کړئ بَيۡنَ په منځ أَحَدٖ د هیڅ یو
مِّنۡهُمۡ د هغوی(کې) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک سَوۡفَ ډېر زر به
يُؤۡتِيهِمۡ هغه(جل جلاله» ورکړي دوی ته أُجُورَهُمۡۚ اجرونه(او
ثوابونه) د دوی وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی غَفُورٗا بخښونکئ
رَّحِيمٗا (او) رحم کوونکئ. ١٥٢

يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ فَقَدۡ سَأَلُواْ مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ
مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ
بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَعَفَوۡنَا عَن ذَٰلِكَۚ وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ١٥٣

يَسْـَٔلُكَ سوال کوي(ستا نه ای محمد «صلی الله علیه وسلم) أَهْلُ
ٱلْكِتَـٰبِ کتابیان(یعنی یهود او نصرانیان) أَن چې تُنَزِّلَ نازل
کړې ته عَلَيْهِمْ په دوی باندې كِتَـٰبًا یو کتاب مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ د
آسمان نه(یعنی چې د تورات پشان یو مکمل لیکل شوئ کتاب دوی ته د
الله تعالی د طرف څخه راوړي.دا د یهودو او نصرانیانو لوی شرارت او
شیطانت وو چې خلک یې د قرآنکریم په اړه په شک کې اچول،دوی به
ویل چې قرآنکریم د الله تعالی کتاب نه دی،محمد «صلی الله علیه وسلم»
نعوذبالله هره ورځ یو او دوه آیتونه پخپله جوړوي او بیا خلکو ته وایې
چې دا د الله تعالی خبرې دي،نو که چیرته محمد «صلی الله علیه وسلم)په
رښتیا د الله تعالی رسول وي،او قرآنکریم په رښتیا د الله تعالی خبرې
وي؟نو د تورات پشان دې ټول قرآن په یو ځل راوړي،نو بیا به یې مونږ.
ومنو او ایمان به ورباندې راوړو چې واقعاً محمد «صلی الله علیه وسلم د
الله تعالی رسول او قرآنکریم د الله تعالی کتاب دی،مګر دا د دوی د
منافقت او عناد خبرې وې،که ټول قرآن په یو ځل نازل شوئ هم وو بیا
یې هم نه منلو ځکه چې) فَقَدْ بیشکه سَأَلُوا۟ دوی غوښتئ وو(یعنی
د دوی نیکونو غوښتئ وو) مُوسَىٰٓ د موسیَ علیه السلام نه أَكْبَرَ
ډېر لوی شی مِن ذَٰلِكَ د دې نه(یعنی دا د کتاب په یو ځل نازلیدل خو
وړه خبره ده،دوی خو د منافقت او عناد په وجه د موسی علیه السلام
څخه د دې نه هم لویه غوښتنه کړې وه فَقَالُوٓا۟ دوی ویلي وو(موسی
علیه السلام ته چې:) أَرِنَا وښایه مونږ ته ٱللَّهَ الله تعالی
جَهْرَةً ښکاره(چې د سر په سترګو یې وګورو،او که یې ونه ګورو نو نه
یې منو.) فَأَخَذَتْهُمُ نو ونیول هغوی ٱلصَّـٰعِقَةُ تندر بِظُلْمِهِمْ ۚ په
سبب د ظلم د هغوی(یعنی د هغوی د دې سرکشی او ګستاخئ په سبب د
آسمان نه ورباندې تندر راولویدلو او ټول مړه شو،خو بیا د موسی علیه

السلام په دعا سره الله تعالى بيرته راژوندي کړل،مګر سره د دومره معجزو د ليدلو) ثُمَّ وروسته(بيا کله چې موسى عليه السلام کوه طور ته لاړو) ٱتَّخَذُواْ ونيولو هغوى ٱلْعِجْلَ خوسى(معبود يعنى په خدايى سره) مِنۢ بَعْدِ مَا وروسته د هغې نه جَآءَتْهُمُ چې راغلي وو هغوى ته ٱلْبَيِّنَـٰتُ ښکاره دلايل(او معجزې،يعنى د دوى د مصر نه راوتل،د فرعون د عذاب نه خلاصول،درياب په منځ دوه ځايه کيدل او د دوى د درياب نه تيريدل او د فرعون غرقيدل دا ټول هرڅه دوى په سترګو وليدل چې هيڅ شى هم خوسي نه دى کړي بلکې هر څه الله تعالى وکړل،مګر سره د دې بيا هم دوى د خسي عبادت شروع کړو.نو الله تعالى فرمايي: ) فَعَفَوْنَا بيا (هم) مونږ عفوه وکړه دوى ته عَن ذَٲلِكَۚ د دې (ګناه) نه(يعنى کله چې موسى عليه السلام د کوه طور نه راغئ،او دوهم ځلې يې يهودو ته د توحيد دعوت ورکړو نو دوى توبه وويسته او الله تعالى معاف کړل) وَءَاتَيْنَا او ورکړې وو مونږ مُوسَىٰ موسى عليه السلام ته سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا روښانه دلايل ۱۵۳

وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَـٰقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُواْ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُواْ فِى ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَـٰقًا غَلِيظًا ۱۵۴

يهود يانو د موسى عليه السلام څخه د کتاب غوښتنه وکړه،خو کله چې تورات نازل شو او موسى عليه السلام دوى ته راوړو نو دوى وويل چې د دې احکام سخت دي او مونږ يې منلو ته تيار نه يو.

وَرَفَعْنَا او پورته کړو مونږ فَوْقَهُمُ د هغوى دپاسه ٱلطُّورَ د طور غر بِمِيثَـٰقِهِمْ دپاره د قبلولو د وعدې د هغوى(يعنى دا يهوديان خو هغه خلک دي چې په دوى خو تورات کوم چې په يو ځل نازل شوئ وو ، هم د غر په زور منل شوئ دى نو تاته څنګه وايي چې قرآنکريم ټول په يو

ځل راوړه،مونږ ایمان راوړو،دوی دروغجن او منافقان دي دا د دوی
بهانې دي پخپله خو ایمان نه راوړي بلکې نور هم د اسلام د دایرې څخه
وښکل غواړي) وَقُلْنَا او(د یهودو بل منافقت دادی چې) مونږ وویلي
لَهُمُ دوی ته ٱدْخُلُواْ چې ننوځئ ٱلْبَابَ دروازې ته(د ښار)
سُجَّدًا سجده کوونکي(یعنی یهودو ته الله تعالی امر کړئ وو چې بیت
المقدس ته د سجدې کولو یعنی سر ټیټولو او (حِطَّةُ- یعنی ای الله مونږ ته
زمونږ ګناهونه معاف کړي.) د ویلو په حالت کې داخل شئ مګر دوی د
الله تعالی د دې دواړو خبرو مخالفت وکړو،نه د سجدې یا سر ټیټولو په
حالت کې داخل شول،او نه یې (حَطّة) وویلې،بلکې په کوناټیو باندې د
خویدلو او د (حِنْطَة- یعني غنم غواړو) د لفظ د ویلو په حالت کې په
دروازه کې داخل شول.) وَقُلْنَا او (د دوی یوې بلې سرکشئ او منافقت
ته الله تعالی اشاره کوي،فرمایي:) مونږ وویل لَهُمْ دوی ته لَا تَعْدُواْ
چې زیاتئ(یا تیرئ) مه کوئ فِی ٱلسَّبْتِ د خالې(یعنی شنبې) په ورځ
کې(الله تعالی دوی د خالې په ورځ د ماهیانو د ښکار نه منع کړي
وو،چون د خالې په ورځ به ماهیان زیات راتلل نو دوی به د خالې ورځې
ته هم حیله جوړوله داسې چې:ډنډونه یې جوړکړل،د خالې په ورځ به یې
ماهیان په ډنډونو کې حصارول او د یکشنبې په ورځ به یې ښکار کولو)
وَأَخَذْنَا او اخستې وه مونږ مِنْهُم د دوی نه(په دې خبره چې د خالې
په ورځ به ښکار نه کوئ) مِّيثَٰقًا غَلِيظًا کلکه وعده. ۱۵۴

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ
قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ۱۵۵

فَبِمَا نو په سبب نَقْضِهِم د ماتولو د هغوی مِّيثَٰقَهُمْ د وعدې د
هغوی (يعنی يهوديانو) وَ او (په سبب) كُفْرِهِم د كفر د هغوی
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ په آياتونو د الله تعالی باندې وَقَتْلِهِمُ او(په سبب) د وژلو
د هغوی ٱلْأَنۢبِيَآءَ د پيغمبرانو بِغَيْرِ حَقٍّ په ناحقه باندې(لكه ذكريا
عليه السلام او يحيی عليه السلام چې دوی ووژل) وَقَوْلِهِمْ او (
پيغمبر عليه السلام ته په سبب) د ويلو دهغوی قُلُوبُنَا (چې)زړونه
زمونږ غُلْفٌ په پردو كې دي(ستا په خبره نه پوهيږو،يعنی د
ريشخند نه يې داسې خبرې كولې چې زمونږ زړونه په داسې پردو كې
بند دي چې ستا خبرې نه ورننوځې،او نه پرې څه اثر كوي،او مونږ
هماغه كوو چې زمونږ نيكونو كول.) بَلْ طَبَعَ حال دا چې مهر
لږولئ دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلَيْهَا په هغوی باندې(يعنی په زړونو
باندې) بِكُفْرِهِمْ په سبب د كفر د هغوی(يعنی د هغوی د ګناهونو او
كفر په سبب يې په زړونو مهر لږيدلئ دی، نه دا چې د مهر لږولو په
سبب يې ګناهونه كړې) فَلَا يُؤْمِنُونَ نو دوی ايمان نه راوړي إِلَّا
مګر قَلِيلًا ډېر لږ(په دوی كې ايمان راوړي) ١٥٥

وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَٰنًا عَظِيمًا ١٥٦

وَبِكُفْرِهِمْ او په سبب د كفر د هغوی وَقَوْلِهِمْ او(په سبب) د ويلو د
هغوی عَلَىٰ مَرْيَمَ په مريم«عليهاالسلام) باندې بُهْتَٰنًا عَظِيمًا ډېر
لوی تهمت(سره د دې چې دې بدبختو ته د مريم عليهاالسلام پاكوالئ او
كرامتونه ښه معلوم وو،خو بيا هم دوی عيسی عليه السلام ته نعوذبالله ولد
زنا ويلو او په مريم عليهاالسلام يې د زنا تهمت تپلوو) ١٥٦

وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا ١٥٧

وَقَوْلِهِمْ او (په سبب د دې) خبرو د هغوی إِنَّا (چې) بيشکه قَتَلْنَا مړ کړئ دی مونږ ٱلْمَسِيحَ مسيح عِيسَى عيسی«عليه السلام» ٱبْنَ ځوی مَرْيَمَ د مريم«عليهاالسلام» رَسُولَ پيغمبر ٱللَّهِ د الله تعالی وَ په داسې حال کې( حقيقت دا دی) مَا قَتَلُوهُ چې نه هغوی عيسی«عليه السلام» مړ کړئ دی وَمَا صَلَبُوهُ او نه هغوی عيسی«عليه السلام» په دار کړئ دی وَلَٰكِن ليکن شُبِّهَ مشابه شوئ وو(يعنی هم شکله شوئ وو) لَهُمْ ۚ هغوی ته( هغه وژل شوئ کس د عيسی«عليه السلام سره») وَإِنَّ ٱلَّذِينَ او بيشکه هغه خلک ٱخْتَلَفُوا۟ چې اختلاف کوي فِيهِ د عيسی«عليه اسلام«په باره کې لَفِى شَكٍّ خامخا په شک کې دي مِّنْهُ ۚ د عيسی«عليه السلام» په باره کې (ځکه چې) مَا لَهُم نشته هغوی ته بِهِۦ د عيسی «عليه السلام» په باره کې مِنْ عِلْمٍ هيڅ علم إِلَّا مګر ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ پيروي د ګمان(کوي،يعنی صحيح علم ورته نشته دا صرف د دوی د ګمان خبرې دي، او حقيت نه دی) وَ او (اصلي حقيقت صرف الله تعالی ته معلوم دی، فرمايې) مَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا هغوی يقيناً عيسی (عليه السلام)نه دی وژلئ کړئ(يعنی نه دی مړ کړئ) ١٥٧

بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ١٥٨

بَل بلکې رَّفَعَهُ پورته کړئ وو ٱللَّهُ الله تعالی إِلَيْهِ ۚ خپل ځان ته وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَزِيزًا زورور حَكِيمًا (او)حکمت والا.(نه د عيسی «عليه السلام» پورته کول الله ته کوم سخت

کار وو،او نه د هغه علیه السلام پورته کول آسمان ته او بیا راکوزیدل ځمکې ته د حکمت څخه خالي دي.د دې آیت نه په واضح ډول معلومیږي چې څوک په دې عقیده وي چې عیسی علیه السلام وژل شوئ دی نو دا دالله تعالی د دې یقیني خبرو نه انکار کوي چې په قرآنکریم کې دیارلس آیتونه دي،او د نوي(۹۰) څخه زیات احادیث او اجماع د مسلمانانو ده،چې عیسی «علیه السلام )ژوندئ دی او د قیامت نه مخکې به د آسمان نه راکوزیږي) ۱۵۸

وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ۱۵۹

وَإِن او نشته مِّنْ هیڅ څوک أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ د اهل کتابو نه(یعنی د یهودو او نصرانیانو نه) إِلَّا مګر لَيُؤْمِنَنَّ (چې)هغه به خامخا ایمان راوړي بِهِۦ په هغه( عیسی علیه السلام باندې) قَبْلَ مخکې مَوْتِهِۦ ۖ د هغه د مرګ څخه(یعنی هر کتابي ته به د ځنکدن په وخت کې حقیقت معلومیږي او ایمان به راوړي خو دا ایمان راوړل به ډیر ناوخته وي او هیڅ فایده او ګټه به ورته نه کوي،او همدارنګه کله چې عیسی علیه السلام د آسمان څخه راکوز شي نو په هغې وخت کې چې څومره کتابیان ژوندې وي ټول به پرې ایمان راوړي) وَيَوْمَ او په ورځ ٱلْقِيَـٰمَةِ د قیامت کې يَكُونُ شي به عیسی علیه السلام عَلَيْهِمْ په کتابیانو باندې شَهِيدًا شاهدي ورکوونکئ(یعنی شاهدي به ورکوي چې یهودیانو ونه منلم او نصرانیانو راته د خدای ځوی ویلو) ۱۵۹

فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَـٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرًا ۱۶۰

فَبِظُلۡمٖ او په سبب د ظلم سره مِّنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو هَادُواْ چې
يهوديان وو حَرَّمۡنَا مونږ حرام كړل عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې
طَيِّبَٰتٍ (هغه) پاک شیان أُحِلَّتۡ چې حلال شوي وو لَهُمۡ هغوی
ته(مخکې،لکه د من او سلوی بندیدل، او د اوبنانو د غوبنو او وازدې
حراميدل،يعنی د دوی د ظلم په سبب شريعت ورته سخت شو.)
وَبِصَدِّهِمۡ او(بل) په سبب د منع کولو د هغوی عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله
تعالی د لارې نه كَثِيرٗا د ډېرو(خلکو،يعنی چې هغوی د الله تعالی د
لارې څخه ډېر خلک منع کړي وو.) ١٦٠

وَ او(په سبب د) أَخۡذِهِمُ د اخستلو د هغوی( يعنی د يهوديانو) ٱلرِّبَوٰاْ
د سود وَ حال دا چې قَدۡ يقيناً نُهُواْ منع شوي وو هغوی
عَنۡهُ د دغه(سود اخستلو) نه وَأَكۡلِهِمۡ او (په سبب) د خوړولو
أَمۡوَٰلَ د مالونو ٱلنَّاسِ د خلکو بِٱلۡبَٰطِلِۚ په ناروا توګه وَأَعۡتَدۡنَا
او تيار کړئ دی مونږ لِلۡكَٰفِرِينَ منکرانو ته مِنۡهُمۡ د هغوی ځنې
عَذَابًا أَلِيمٗا دردونکئ عذاب. ١٦١

لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ
مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٦٢ ۞

لَّٰكِنِ ليکن ٱلرَّٰسِخُونَ محکم(او پاخه خلک) فِي ٱلۡعِلۡمِ په علم کې
مِنۡهُمۡ د هغوی (يعنی د يهوديانو) وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ او مؤمنان يُؤۡمِنُونَ
ايمان لري بِمَآ په هغه(قرآنکريم) أُنزِلَ چې نازل شوئ دی
إِلَيۡكَ تا ته وَمَآ او په هغه(کتابونو) أُنزِلَ چې نازل شوي دي
مِن قَبۡلِكَۚ مخکې د ستا نه وَ او(خصوصاً) ٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ چې
لمونځ کوونکې دي وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ او زکات ورکوونکې دي

وَٱلْمُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ او ایمان لرونکي دي په الله تعالی باندې وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ
او په ورځ د آخرت باندې أُوْلَـٰٓئِكَ دغه(خلک) سَنُؤْتِيهِمْ خامخا به
مونږ ورکړو دوی ته أَجْرًا عَظِيمًا ډېر لوی اجر ١٦٢

إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ
وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَـٰرُونَ
وَسُلَيْمَـٰنَ ۚ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ١٦٣

إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ او بیشکه مونږ وحې کړي ده تا ته(ای محمد صلی الله
علیه وسلم) كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ لکه څنګه چې مونږ وحې کړي وه
نوح «علیه السلام) ته وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ او (لکه څنګه چې مونږ
وحې کړي وه نورو) پیغمبرانو ته وروسته د نوح علیه السلام نه
وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ او وحې کړي وه مونږ ابراهیم علیه السلام ته
وَإِسْمَـٰعِيلَ او اسماعیل علیه السلام ته وَإِسْحَـٰقَ او اسحق علیه السلام
ته وَيَعْقُوبَ او یعقوب علیه السلام ته وَٱلْأَسْبَاطِ او د هغوی
اولاد ته وَعِيسَىٰ او عیسی علیه السلام ته وَأَيُّوبَ او ایوب علیه
السلام ته وَيُونُسَ او یونس علیه السلام ته وَهَـٰرُونَ او هارون
علیه السلام ته وَسُلَيْمَـٰنَ ۚ او سلیمان علیه السلام ته وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ
زَبُورًا او ورکړئ وو مونږ داود علیه السلام ته زبور ١٦٣

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَـٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ
مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ١٦٤

وَرُسُلًا او (وحې کړي وه مونږ نورو) رسولانو ته قَدْ قَصَصْنَـٰهُمْ چې
بیشکه د هغوی حال مونږ بیان کړئ دی عَلَيْكَ تا ته مِن قَبْلُ د دې

نه مخکې وَرُسُلًا او(نورو) رسولانو ته لَّمْ نَقْصُصْهُمْ چې د
هغوی حال مونږ نه دی بیان کړی عَلَيْكَ ۚ تا ته(د دې نه مخکې) وَ
كَلَّمَ او خبرې کړې دي ٱللَّهُ الله تعالی مُوسَىٰ د موسی علیه
السلام سره تَكْلِيمًا واضحه خبرې.١٦٤

رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ١٦٥

رُّسُلًا (او مونږ لیږلې دي) پیغمبران مُّبَشِّرِينَ زیری ورکونکې(په جنت سره) وَمُنذِرِينَ او ورویونکې(د دوزخ نه) لِئَلَّا يَكُونَ د دې دپاره چې جوړه نشي لِلنَّاسِ د خلکو دپاره عَلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته حُجَّةٌۢ څه بهانه بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ پس د پیغمبرانو (د لیږلو نه،یعنی چې د قیامت په ورځ د حساب او کتاب په وخت کې بیا ونه وایې چې زه خو خبر نه وم،یا الله تا خو به زه لږ خبر کړی وم) وَكَانَ ٱللَّهُ او دی الله تعالی عَزِيزًا زورور حَكِيمًا (او) حکمت والا ١٦٥

لَّـٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ ۖ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ يَشْهَدُونَ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦

لَّـٰكِنِ لیکن ٱللَّهُ الله تعالی يَشْهَدُ شاهدې وایې بِمَآ په هغه(قرآن) أَنزَلَ چې هغه«جل جلاله» نازل کړی دی إِلَيْكَ ۖ تا ته(ای محمد صلی الله علیه وسلم).

أَنزَلَهُۥ چې نازل کړی دی هغه«جل جلاله» دغه (قرآنکریم) بِعِلْمِهِۦ ۖ په خپل علم سره وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ او ملائیکې يَشْهَدُونَ ۚ (هم) شاهدې وایې(ستا په نبوت او د قرآنکریم په حقانیت چې د الله تعالی کلام دی)

وَكَفَىٰ او كافي دى بِٱللَّهِ الله تعالى شَهِيدًا (په حيث د)د شاهد.
١٦٦

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدْ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٦٧

إِنَّ بيشكه ٱلَّذِينَ هغه(كسان) كَفَرُواْ چې كفر (اوانكار) يې كړئ دى(د حق ښخه) وَ او(علاوه د دې ښخه چې خپله خو يې حق نه منلو،نور خلک يې هم) صَدُّواْ بند كړي دي عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى د لارې نه قَدْ بيشكه ضَلُّواْ دوي ګمراه(او بې لارې) شوي دي ضَلَٰلَۢا په ګمراهئ بَعِيدًا ډېرې لرې سره(يعنى د جنت د لارې ښخه بې لارې شوي دي او د دوزخ په لار د حقې لارې نه ډېر لرې روان دي) ١٦٧

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ١٦٨

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشكه هغه(خلک) كَفَرُواْ چې كفر يې كړئ دى وَظَلَمُواْ او ظلم يې كړئ دى(يعنى د الله تعالى د دين نه منكر شوي دي،او علاوه د دې نه يوازې په كفر يې صبر نه دى كړئ ،او نور خلک يې هم د اسلام ښخه منع كړي دي،مسلمانانو ته يې تكليفونه ورسولي دي،حتى وژلې يې دي) لَمْ يَكُنِ ٱللَّهُ (نو)الله تعالى داسې نه دى لِيَغْفِرَ چې بخښنه به وكړي لَهُمْ دې(كافرانو او ظالمانو ته) ته وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ نه دا چې وبه ښايې دوى ته طَرِيقًا (سمه د جنت) لاره (ځكه چې الله تعالى عادل دى ، فرضاًهغه ښوک چې د الله تعالى،د دين ښخه منكر او ظالم وى،او هغه ښوک چې مؤمن او مظلوم وي،نو كه چيرته الله تعالى دا دواړه كافر،او مؤمن او ظالم او مظلوم په يوه دروازه جنت ته داخل كړي،دا خو بيا عدالت نه دى،نو الله تعالى د داسې كولو ښخه پاک دى.)

إِلَّا مګر(چون دوی پخپله د جهنم لار غوره کړي ده،نو الله تعالی)
طَرِيقَ جَهَنَّمَ د جهنم (په) لاره(د تللو توفيق ورکوي،ځکه چې دوی په
خپله د جهنم په لارې د تللو اراده کړي ده نو کله چې د دوی د ارادې د
پوره کولو دپاره د الله تعالی اراده ورسره یوځای شي،نو جهنم يې ځای
شي) خَـٰلِدِينَ فِيهَآ تل به وي(دوی)په دې جهنم کې أَبَدًا ۚ همیشه
وَكَانَ او دی ذَٰلِكَ دا (کار یعنی د مجرمانو اچول په جهنم کې او
هغوی ته جزا ورکول) عَلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته يَسِيرًا ډېر آسان
١٦٩

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ۚ وَإِن
تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١٧٠

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ای انسانانو قَدْ بیشکه جَآءَكُمُ راغلئ دی تاسو ته
ٱلرَّسُولُ پیغمبر بِٱلْحَقِّ په حقه سره مِن رَّبِّكُمْ ستاسو د رب د
طرف نه فَـَٔامِنُوا۟ نو تاسو ایمان راوړئ(په هغه صلی الله علیه وسلم
ځکه چې ایمان راوړل) خَيْرًا ډېر بهتر دي لَّكُمْ ۚ ستاسو
دپاره(یعنی د جنت همیشه بادشاهي به مو په برخه شي،چیرته چې نه
مرګ شته،نه غریبې شته،نه مریضې،نه غم او ډیپریشن شته،همیشه بهار
او تل ځوانې وي) وَإِن او که چیرته تَكْفُرُوا۟ انکار وکړئ(او
ایمان را نه وړئ) فَإِنَّ نو بیشکه لِلَّهِ خاص د الله تعالی دي مَا
هغه(ټول شیان) فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَٱلْأَرْضِ ۚ
او چې په ځمکه کې دي(ټول هرڅه
آسمانونه،ملائیکې،ځمکه،جنتونه،جهنم،تاسو،ستاسو اولادونه او ستاسو
دولتونه ټول د الله تعالی دي،ستاسو په ځانونو،مالونو او اولادونو کې پرته

ستاسو د پوښتنې څخه تصرف او مداخله کولای شي،مالونه او اولادونه در څخه اخستلای،تاسو پخپله په مرضونو او افتونو اخته کولای شي،او بلآخره په جهنم کې مو د همیشه دپاره اچولئ شي،چیرته به چې کورونه د اور،کوټې د اور،چت د اور،دیوالونه د اور،فرش د اور،بستره د اور،توشک او بالښت د اور،کمیس او پرتوګ د اور،خولۍ او څپلی د اور،خوراک زقوم،څښاک د دوزخیانو وینې او زوې،نه به په کې مړه کیږئ او نه به ژوندې کیږئ او نه به ترې تښتیدلای شئ.نور دې خوښه چې ایمان په الله تعالی، محمد صلی الله علیه وسلم او قرآنکریم راوړې او که نه؟ وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلِيمًا پوه حَكِيمًا (او)حکیم. ۱۷۰

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ ای کتابیانو(یعنی ای یهودو او نصرانیانو) لَا تَغۡلُواْ زیاتئ مه کوئ(د حد څخه مه تیریږئ،افراط او تفریط مه کوئ) فِي دِينِكُمۡ په خپل دین کې وَلَا تَقُولُواْ او مه وایئ عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې (دروغ) إِلَّا مګر ٱلۡحَقَّۚ حق(او رښتیا وایئ) إِنَّمَا بیشکه(حقیقت دا دی چې:) ٱلۡمَسِيحُ مسیح عِيسَى عیسی«علیه السلام» ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ځوی د مریم«علیهاالسلام» رَسُولُ پیغمبر د ٱللَّهِ الله تعالی دی وَكَلِمَتُهُۥٓ او د الله تعالی(د کُن)لفظ دی أَلۡقَىٰهَآ چې الله تعالی ډالی کړو إِلَىٰ مَرۡيَمَ مریم«علیهاالسلام ته»(یعنی د الله تعالی د کن د کلیمې په سبب، پرته د پلار د نطفې څخه یوازې د مور د

نطفې څخه د مریم علیهاالسلام په رحم کې پیدا شو) وَرُوحٌ مِّنْهُۖ او روح وو د الله تعالی د طرف نه(اګر چې د ټولو انسانانو روحونه د الله تعالی د طرف څخه دي،لیکن ټول روحونه یو قسم نه دي،د ځنو روحونو ډېرې لوړې -لوړې مرتبې دي،مثلاً د محمد «صلی الله علیه وسیلم» د روح بیله مرتبه او شان دی،او د عیسی «علیه السلام»د روح بیله مرتبه او شان دی) فَـَٔامِنُواْ نو ایمان راوړئ بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَرُسُلِهِۦۖ او د الله تعالی په پیغمبرانو باندې وَلَا تَقُولُواْ او مه وایئ(چې معبودان) ثَلَٰثَةٌۚ درې دي(یعنې ځینې وایې چې معبودان درې دي ۱-الله تعالی،۲-روح القدس،۳-عیسی علیه السلام،او ځینې وایې: ۱-الله تعالی، ۲-بي بي مریم«علیهاالسلام»،۳-عیسی «علیه السلام» نو الله تعالی فرمایې) ٱنتَهُواْ د دې(خبرو نه) منع شئ (ځکه چې د شرک څخه منعه کیدل او د توحید عقیده اختیارول) خَيْرًا بهتر دي لَّكُمْۚ ستاسو دپاره(ځکه چې د دوزخ نه به بچ شئ او جنت ته به لاړ شئ) إِنَّمَا بیشکه(حقیقت دا دی چې:) ٱللَّهُ الله تعالی إِلَٰهٌ معبود دی(لایق د عبادت دی) وَٰحِدٌۖ (تنها) یوازې(یعنی په کائناتو کې صرف یوازې یو الله تعالی لایق د عبادت دی،او هیڅوک ورسره شریک نشته دی) سُبْحَٰنَهُۥٓ پاک دی هغه«جل جلاله» أَن (د دې نه) چې: يَكُونَ وي دې لَهُۥ هغه «جل جلاله» ته وَلَدٌۘ ځوی.

لَّهُۥ د هغه«جل جلاله» دي (دهغه«جل جلاله»په اختیار کې دي) مَا هغه(څه) فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه(څه) فِى ٱلْأَرْضِۗ چې په ځمکه کې دي وَكَفَىٰ او کافي دی (او بس دی) بِٱللَّهِ الله تعالی وَكِيلًا وکیل(کار جوړوونکئ).۱۷۱

لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۚ وَمَن يَسْتَنكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا ١٧٢

لَّن يَسْتَنكِفَ هيڅكله بده (او شرم) نه ګڼي ٱلْمَسِيحُ مسيح عليه السلام أَن (دا خبره) چې يَكُونَ هغه عليه السلام دې وي عَبْدًا لِّلَّهِ يو بنده د الله تعالی(يعنی عيسی عليه السلام د الله تعالی په بندګۍ نه شرميږي،او نه ترې نفرت کوي، بلکې د الله تعالی په بندګۍ کولو او د الله تعالی په ورکول شوي پيغمبرۍ باندې فخر کوي) وَلَا او نه ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۚ مقربې( يعنی الله تعالی ته نيزدې) ملائيکې(جبرائيل عليهم السلام،ميکائيل عليه السلام،اسرافيل عليه السلام او عزرائيل عليه السلام(ملک الموت) د الله تعالی په بندګۍ شرميږي،بلکې د الله تعالی په ورکول شوي مقام او عزت افتخار کوي،فلهذا د الله تعالی يو بنده او پيغمبر او هغه ملائيکې چې شپه او ورځ د الله تعالی په بندګۍ او عبادت کې مشغولې دي،نو دوی ته خدای ويل او د الله تعالی سره په خدايۍ کې شريکول کفر او ډېر لوی ظلم دی.) وَمَن او څوک چې يَسْتَنكِفْ نفرت کوي(او شرميږي) عَنْ عِبَادَتِهِۦ د هغه«جل جلاله) د بندګۍ نه(يعن د الله تعالی په بندګۍ او عبادت شرميږي او بدې يې شي) وَيَسْتَكْبِرْ او تکبر کوي(لکه د شيطان پشان) فَسَيَحْشُرُهُمْ نو(داسې کبرجن) به ډېر ژر الله تعالی راټول کړي(د قيامت ورځ د حشر په ميدان کې) إِلَيْهِ خپل ځان ته جَمِيعًا ټول(او د هر چا سره به زره په زره حساب وکړي) ١٧٢

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ نو هغه(خلک) کومو چې: ءَامَنُواْ ايمان راوړئ دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک عملونه يې کړي فَيُوَفِّيهِمْ نو هغه(جل جلاله» به پوره ورکړي دوی ته أُجُورَهُمْ اجرونه د دوی(يعنی په

اجراو ثواب کې به ئې یوه زره کموالئ هم نه راځې،بلکې) وَيَزِيدُهُم
او زيات به ورکړي(اجر،يعنى يوه نيکې به يو په لسه او يو په اووه سوه
چنده ورکړي) مِّن فَضْلِهِۦۖ د خپل فضل(او رحم څخه) وَأَمَّا ٱلَّذِينَ
او هغه(خلک) کوم چې: ٱسْتَنكَفُوا۟ نفرت کوي(د الله تعالى د بندګۍ او
عبادت څخه) وَٱسْتَكْبَرُوا۟ او کبر کوي فَيُعَذِّبُهُمْ نو هغه«جل
جلاله»به عذاب ورکړي دوى ته عَذَابًا أَلِيمًا دردناک عذاب وَلَا
يَجِدُونَ او پيدا به نه کړي دوى لَهُم خپلو ځانونو ته مِّن دُونِ ٱللَّهِ
پرته د الله تعالى څخه وَلِيًّا هيڅ دوست وَلَا او نه نَصِيرًا
هيڅوک کومک کوونکئ(چې د عذاب څخه يې خلاص کړي او يا يو څه
عذاب وربادندې سپک کړي،يعنى پرته د الله تعالى د حکم او اجازې څخه
نه پيغمبران کومک کولاى شي،نه ملائيکې او نه وليان) ۱۷۳

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ۱۷٤

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ اى انسانانو قَدْ بيشکه جَآءَكُم راغلئ دى تاسو ته
بُرْهَٰنٌ لوى دليل (محمد«صلى الله عليه وسلم») مِّن رَّبِّكُمْ ستاسو د
رب د طرف څخه وَأَنزَلْنَآ او نازل کړي ده مونږ إِلَيْكُمْ تاسو ته
نُورًا مُّبِينًا ښکاره(او واضحه) رڼا(قرآنکريم) ۱۷٤

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱعْتَصَمُوا۟ بِهِۦ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِى رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ
وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ۱۷٥

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ نو هغه(خلک)چې هغوى ءَامَنُوا۟ ايمان راوړو بِٱللَّهِ
په الله تعالى باندې وَٱعْتَصَمُوا۟ او منګولې يې ولږولې بِهِۦ په
(دين د) هغه«جل جلاله»باندې فَسَيُدْخِلُهُمْ نو هغه«جل جلاله) به
داخل کړي دوى فِى رَحْمَةٍ مِّنْهُ په رحمت د هغه«جل جلاله» کې

وَفَضْلٍ او په فضل(د هغه«جل جلاله» جنت کې) وَيَهْدِيهِمْ او وبه
بنيي دوی ته إِلَيْهِ خپل طرف ته صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا سمه لار. ۱۷۵

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِى ٱلْكَلَٰلَةِ ۚ إِنِ ٱمْرُؤٌا۟ هَلَكَ لَيْسَ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَهُۥٓ أُخْتٌ
فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا
ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ۚ وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۗ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ۱۷۶

په دې مبارک آيت کې د «کلاله» د ميراث ذکر دی.کلاله هغه مړي ته وايي چې پلار او اولادونه ئې نه وي يعنې ميرات وي.د النساء د سورة په ۱۲ آيت کې د «کلاله»د ميراث په باره کې ذکر شوئ دی،خو ځيني صحابه کرامو د دې مسئلې په باره کې د نورو تفصيلاتو پوښتنې وکړې،چې د دې پوښتنو په ځواب کې دا مبارک آيت نازل شو

يَسْتَفْتُونَكَ دوی فتوَی غواړي ستا نه(دوی پوښتنې کوي ستا نه د «کلاله» د ميراث په باره کې) قُلِ (ورته) ووايه ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ الله تعالی حکم کوي تاسو ته فِى ٱلْكَلَٰلَةِ ۚ د کلاله په باره کې(داسې چې) إِنِ ٱمْرُؤٌا۟ که چيرته يو سړی هَلَكَ مړشي(په داسې حال کې) لَيْسَ چې نه وي لَهُۥ د هغه وَلَدٌ اولاد وَلَهُۥٓ او د هغه أُخْتٌ يوه خور وي فَلَهَا نو هغې ته نِصْفُ نيمايې مَا د هغه(مال ورکول کيږي) تَرَكَ ۚ چې هغه(بې اولاده او بې پلاره مړي) پريښئ دئ وَ او(که خور مړه شي،او ورور يې پاتې وي نو:) هُوَ هغه(يعنې ورور ئې) يَرِثُهَآ د هغې(يعنې د خور د ټول مال)وارث کيږي إِن (خو په دې شرط) که چيرته لَّمْ يَكُن نه وي لَّهَا د هغې وَلَدٌ ۚ اولاد فَإِن او که چيرته(د بې اولاده او بې پلاره مړي) كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ دوه خورګانې وي فَلَهُمَا نو د دې دواړو دپاره

ٱلثُّلُثَانِ (د ټول مال)دوه په درې برخه ده مِمَّا تَرَكَۚ د هغه(مال) چې
هغه(بې اولاده او بې پلاره مړي)پرېښئ دی(مطلب دا چې ټول مال په
دریو برخو ویشل کیږي او دوه برخې مال دوه خورګانو ته ورکول
کیږي) وَإِن او که چېرته كَانُوٓاْ يې هغوی(یعنی وارثان) إِخۡوَةٗ
ځو ورونه او خورګانې رِّجَالٗا سړي وَنِسَآءٗ او ښځې (یعنی که
وارثان ډېر ورونه او خورګانې وي) فَلِلذَّكَرِ نو د هر سړي
دپاره(برخه) مِثۡلُ په شان(په اندازه) حَظِّ د برخو ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ د
دوه ښځو ده. يُبَيِّنُ بیانوي ٱللَّهُ الله تعالی لَكُمۡ تاسو ته(احکام د
میراث) أَن تَضِلُّواْۗ چې تاسو ګمراه (او بې لارې) نشئ وَٱللَّهُ او
الله تعالی بِكُلِّ شَيۡءٍ په هر شي باندې عَلِيمُۢ پوه دی. ١٧٦

الحمد لله د سورة النساء ترجمه او تفسیر ختم شو.٢٨-٠٩-٢٠٢٣

ډاکټر محمد عثمان نظامی

# سورة المآئده

## مدني سورت دی،پرته د (۳) آيته چي په عرفات کې په حجةالوداع کي نازل شوئ دی،په تلاوت کي (۵) او په نزول کي(۱۱۲)سورت دی،(۱۲۰) آياتونه او (۱۶) رکوع لري،او د الفتح د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی.

## بسم الله الرحمن الرحيم

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوْفُواْ بِٱلْعُقُودِۚ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَـٰمِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّى ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ١

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلکو ءَامَنُوٓاْ چي ايمان ئې راوړئ دی(اى مؤمنانو) أَوْفُواْ پابندي(او ساتنه) کوئ بِٱلْعُقُودِۚ (د شريعت په احکامو باندې) أُحِلَّتْ حلال(او رواه) شوي دي لَكُم تاسو ته بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَـٰمِ د انعامو غوندې حيوانات(انعام کورني يا اهلي حيواناتو ته لکه اوښ،غوا،ګډې،وزې او ميښو ته وايې،نو هغه صحرايې حيوانات چي د دې اهلي يا کورنې حيواناتو سره مشابهت ولرې يعنى خيرونکې او غوښې خوړونکي نه وي او نباتي غذا خوري لکه ځنګلي غوا او هوسۍ

نو د دي ډولو غوښې خوړل حلال دي) إِلَّا مګر مَا د هغو(حيوا
ناتو غوښې حلالې او رواه نه دي چې د هغوی د حرمت په باره کې)
يُتْلَىٰ لوستل کيږي عَلَيْكُمْ تاسو ته (په قرآنکريم کې)

غَيْرَ مُحِلِّي حلال(او رواه)نه دي ٱلصَّيْدِ ښکار کول و په
داسې حال کې چې أَنتُمْ تاسو حُرُمٌ په احرام کې ياستئ(په حج
يا عمره کې) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى يَحْكُمُ حکم کوی مَا د
هغه(څه) يُرِيدُ چې هغه «جل جلاله» يې غواړي. ١

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُحِلُّوا۟ شَعَـٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَلَا ٱلْهَدْىَ وَلَا
ٱلْقَلَـٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَٰنًا ۚ وَإِذَا حَلَلْتُمْ
فَٱصْطَادُوا۟ ۚ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن
تَعْتَدُوا۟ ۘ وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ ۚ وَٱتَّقُوا۟
ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ٢

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو (کسانو) ءَامَنُوا۟ چې ايمان يې راوړئ دى(اى
مؤمنانو). لَا تُحِلُّوا۟ تاسو بي حُرمتي (او سپکاوئ) مه کوئ شَعَـٰٓئِرَ
د شعائرو(د دين د نښو) ٱللَّهِ د الله تعالى وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ او مه
د عزتمني مياشتې(بي حرمتي کوئ) وَلَا ٱلْهَدْىَ او مه کوئ(بې
حُرمتې په حرم کې)د قربانيدونکې څاروي(چې په غاړه کې يې غاړکى نه
وى) وَلَا او مه کوئ(بې عزتې او بې حُرمتې) ٱلْقَلَـٰٓئِدَ (په حرم
کې د قربانيدونکي څاروې) چې په غاړه کې ئې غاړه کى وي(او د حرم
طرف ته بيول کيږي) وَلَآ او مه (د هغو خلکو بې حرمتي او سپکاوئ
کوئ) ءَآمِّينَ چې قصد کوونکې(او تلوونکې) وي ٱلْبَيْتَ کور
ٱلْحَرَامَ عزتمن ته(يعنى بيت الحرام ته) يَبْتَغُونَ چې غواړي هغوی
فَضْلًا فضل مِّن رَّبِّهِمْ د رب خپل وَرِضْوَٰنًا ۚ او(هغوی غواړي)

رضا (د رب خپل ،یعنی هغه خلک چې حج یا عمرې ته د الله تعالی د رضا دپاره روان وي نو تاسو به يې بې حُرمتې او سپکاوئ نه کوئ)
وَإِذَا او کله چې: حَلَلۡتُمۡ احرام خلاص کړئ(یعنی د احرام د حالت څخه ووځئ ) فَٱصۡطَادُواْۚ نو بیا ښکار کوئ(که مو خوښه وي)

په موضوع د ښه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دی.

د هجرت په شپږم کال د ذیقعدةالحرام په میاشت کې محمد «صلی الله علیه وسلم» د ۱۴۰۰ صحابه کرامو سره د عمرې دپاره د مدینې منورې څخه مکې معظمې ته روان شو،احرامونه يې تړلي وو او د قربانۍ څاروي هم ورسره وو،کله چې د حدیبي مقام ته ورسیدل د مشرکانو د خوانه د عمرې کولو څخه منع شو،دوی نه د احرام دحالت،نه د کعبې شریفې د حرمت،نه د شهرالحرام د احترام او نه د قربانۍ د مالونو څه لحاظ وکړو،مسلمانانو د« شعائرالله»د دې توهین او د مذهبې فرایضو د دې ممانعت څخه چې د دې وحشې او ظالم قوم د خوا څخه وشو،که هر څومره د غضب او غصې اظهار کړئ وو،حق يې درلود،او که د مشرکانو په مقابیله کې د انتقام په جوش کې د سده وتلې وو او په کوم اقدام باندې يې لاس پورې کړئ وو،هم ورسره ښایدل او ممکن وو،لیکن د اسلام دوستې او دښمنې هم په عدل او انصاف ولاړه ده،لکه چې قرآنکریم د داسې ظالمو دښمنانو په مقابل کې هم مسلمانانو ته حکم وکړو«چې جذبات مو د ادارې لاندې ونیسئ»ځکه چې انسان د ډېر محبت او ډېرې دشمنۍ په وخت کې په جوش کې راځې،خپل کنټرول د لاسه ورکوي،او د حده تیرئ کوي،نو ځکه يې وفرمایل چې:ښايې د سختو دښمنانانو عداوت او دښمنې هم باید تاسو د عدل او انصاف د دایرې څخه ونه باسي.

وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ او ودې نه هڅوي تاسو شَنَـَٔانُ دښمني د قَوۡمٍ د يو
قوم أَن (کوم قوم) چې صَدُّوكُمۡ منع کړي ئې یاستئ تاسو
عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ د مسجد حرام څخه أَن چې تَعۡتَدُواْۘ
تاسو(هم)زیاتئ(او تیرئ) وکړئ(په غصه او جذباتو کې) وَتَعَاوَنُواْ او
تاسو مرسته کوئ يو د بل سره عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ په نیک کار او
پرهیزګارۍ کې وَلَا تَعَاوَنُواْ او مرسته مه کوئ يو دبل سره عَلَى
ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ د ګناه او د ظلم په کار کې وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ او وویریږئ د
الله تعالی څخه إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ډېر سخت
عذاب ورکوونکئ دی. ٢

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ
وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى
ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ ذَٰلِكُمۡ فِسۡقٌۗ ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ
فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي
وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ
ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣

حُرِّمَتۡ حرام شوي دي عَلَيۡكُمُ په تاسو باندې (خوړل) ٱلۡمَيۡتَةُ د مرداري (یعنی کوم حیوان چې چې پرته د حلالولو څخه په مرض یا طبعي مرګ باندې مړ شوئ وي.) وَٱلدَّمُ او(حرام شوي دي خوړل) د ويني(چې د رګونو څخه بهيږي) وَلَحۡمُ او دغوښې ٱلۡخِنزِيرِ د خنزیر وَمَآ او د هغه (حیوان غوښه حرامه ده) أُهِلَّ چې نذر منل شوئ وي لِغَيۡرِ ٱللَّهِ د غیرالله دپاره بِهِۦ په هغه باندې(یعنی پرته د الله تعالی څخه که د هر چا په نوم نذر وي اګر که د حلالیدلو په وخت کېورباندې د الله تعالی نوم هم واخستل شي لیکن خوړل يې حرام

دي) وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ او (د هغه حیوان) چې زندی شوئ وي(او مړ شوئ وي) وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ او (هغه حیوان)چې وهل شوئ وي(لکه په تیره یا لرګي وهل شوئ وي او مړ شوئ وي) وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ او(هغه حیوان چې د جګ ځایه) په راولیدلو مړ شوئ وي(غوښه یې حرامه ده) وَٱلنَّطِيحَةُ او(هغه حیوان چې د بل ښاروي په)ښکر وهل شوئ وي(او مړشوئ وي،غوښه یې حرامه ده) وَمَآ او هغه حیوان أَكَلَ ٱلسَّبُعُ چې(کوم) ځیرونکي حیوان خوړلئ وي(او یو څه ترې پاتې وي نو د درنده نه د پاتې برخې غوښه خوړل حرام دي) إِلَّا مَا مګر هغه حیوانات حرام نه دي چې تاسو ته ژوندې په لاس درشي او) ذَكَّيۡتُمۡ تاسو یې حلال کړئ(مطلب دا چې که زندی وي که وهل شوئ وي که د جګ ځایه یا په کنده کې ولیدلئ وي یا که بل حیوان په ښکر وهلئ وي،خو چې تاسو ته ژوندی په لاس درشي او ذبحه یې کړئ نو غوښه یې حلاله ده وَمَا او د هغو (ښارویو خوړل حرام دي ) ذُبِحَ چې حلال شوي وي عَلَى ٱلنُّصُبِ د کوم چا په دربار(یعنی درګاه کې لکه د ځینو پیرانو،فقیرانو،بتانو و غیره..... ) کې وَ او(هغه غوښې هم حرامې دي) أَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ چې تاسو یې تقسیموئ د(قمار) د غشو پواسطه(په هغې وخت کې په عربو کې رواج وو چې څه کسانو به په شریکه اوښ واخستلو،بیا به یې حلال کړو:مګر غوښه به یې د جواری په غشو تقسیموله چه چا ته به د خپل حق څخه ډېره زیاته رسیدله،چا ته به د حق څخه کمه او چا ته به بیخي نه رسیدله او د حق څخه به بالکل محروم شو،په اوس وخت کې د دې مثال لاټرې ده چې بالکل حرامه ده) ذَٰلِكُمۡ دا کار(یعنی د غشو پواسطه غوښې تقسیمول او لاټرې) فِسۡقٌۗ فسق(او نافرمانې) ده.

ٱلْيَوْمَ نن ورځ يَئِسَ ناميده شول ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې
كافران شوي دي مِن دِينِكُمْ ستاسو د دين(د ختمولو څخه) فَلَا
تَخْشَوْهُمْ نو تاسو مه ويريږئ د هغوی څخه وَٱخْشَوْنِ ۚ او ځما څخه
وويريږئ ٱلْيَوْمَ نن أَكْمَلْتُ ما مكمل كړو لَكُمْ تاسو ته دِينَكُمْ
دين ستاسو وَأَتْمَمْتُ او تمام مې كړل عَلَيْكُمْ په تاسو باندې
نِعْمَتِي نعمتونه خپل وَرَضِيتُ او خوښ مې كړو لَكُمُ تاسو ته
ٱلْإِسْلَٰمَ اسلام دِينًا ۚ د دين په توګه(نو د حرامو او حلالو كوم
بنديزونه چې په تاسو لږول شوي دي د هغو مراعات وكړئ) فَمَنِ
ليكن څوک ٱضْطُرَّ چې مجبور شي(د حرام شي خوړلو ته) فِي
مَخْمَصَةٍ په سخته ولږه كې غَيْرَ مُتَجَانِفٍ په داسې حال كې چې نه
وي مايل لِّإِثْمٍ ۙ ګناه ته(يعنى چې مقصد يې زيات خوراک نه وي او
نه يې د خوند او لذت دپاره خوري،بلكې صرف د ضرورت په اندازه
دومره وخوري چې ځان د هلاكت څخه وساتي) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بيشكه الله
تعالى غَفُورٌ رَّحِيمٌ بخښوونكئ(او)مهربان دى(چې په دې خوراک ئې
نه نيسې). ٣

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ
مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ
عَلَيْهِ ۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ٤

يَسْـَٔلُونَكَ دوى پوښتنه كوي ستا نه مَاذَآ چې څه أُحِلَّ حلال شوي
دي لَهُمْ ۖ هغوى ته قُلْ (ورته) ووايه أُحِلَّ (چې) حلال شوي
دي لَكُمُ تاسو ته ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ پاک شيان(يعنى هر هغه شى چې
حراموالى يې په قرآن او سنتو كې نه وي راغلئ) وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ

ٱلْجَوَارِحِ او هغه(ښكار) د ښكاري حيواناتو (هم حلال دی چې هغې ښكاري حيواناتو ته) تاسو تربيه(او د ښكار كولو تعليم) وركړئ وي مُكَلِّبِينَ (او تاسو ئې) ليږونكي يئ (يعنی ښكاري حيوان لكه سپی يا باز چې تاسو يې د ښكار پسې ليږئ) تُعَلِّمُونَهُنَّ (او) تعليم وركوئ هغوی(يعنی ښكاري حيواناتو ته په دوامدار ډول) مِمَّا د هغه (علم نه) عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ چې تاسو ته الله تعالی درښودلئ دی(ځكه چې كه چيرته هر وخت تربيه او ټرينينګ ورنه كول شي،هرڅه ترې بيرته هيرېږي او عادي حالت ته راګرځي) فَكُلُوا۟ نو خورئ مِمَّآ د هغه(ښكار څخه) أَمْسَكْنَ (چې دغه ښكاري حيوانات) يې نيسي عَلَيْكُمْ تاسو ته وَٱذْكُرُوا۟ او يادوئ ٱسْمَ ٱللَّهِ نوم د الله تعالی عَلَيْهِ په هغه باندې(يعنی كله چې دغه تربيه شوئ ښكاري حيوان د ښكار پسې خوشي كوئ نو بسم الله وايئ،دا بسم الله د هغې بسم الله قائمقام ده چې د ذبحې يا حلالولو په وخت كې ويل كيږي.) وَٱتَّقُوا۟ او ويريږئ ٱللَّهَ د الله تعالی څخه إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالی سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ زر حساب كوونكئ دی(لكه څنګه چې دي دا دومره عمر تير شو او وربانديې پوه نه شوي همداسې به دې دا پاتې عمر هم تير شي او پرې به پوه نه شي،بلكه ورځ به د حشر په ميدان كې ولاړ يې او الله تعالی به درسره حساب كوي) ٤

ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَـٰتُ ۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَٱلْمُحْصَنَـٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَـٰتِ وَٱلْمُحْصَنَـٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَـٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَـٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ٥

ٱلۡيَوۡمَ نن ورځ أُحِلَّ حلال شول لَكُمُ تاسو ته ٱلطَّيِّبَٰتُۖ پاک
شيان وَ او(همدارنګه) طَعَامُ خوراړه ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو)
أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ چې هغوی ته کتاب ورکول شوی دی حِلّٞ حلال دي.
لَّكُمۡ تاسو ته(يعنی د نصاراوو او يهودو حلال خوراک تاسو ته هم حلال
دی) وَطَعَامُكُمۡ او ستاسو خوراړه حِلّٞ حلال دي لَّهُمۡۖ هغوی
ته وَ او (حلالې دي تاسو ته) ٱلۡمُحۡصَنَٰتُ پاک لمنې مِنَ
ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ د مؤمنو ښځو ځينې وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ او پاک لمنې مِنَ
ٱلَّذِينَ د هغو خلکو ځينې أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ چې هغوی ته کتاب ورکول
شوئ دی مِن قَبۡلِكُمۡ د ستاسو څخه مخکې(يعنی د نصرانيانو او
يهوديانو ځينې) إِذَآ (خو په دې شرط) کله چې: ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ
تاسو ورکوئ هغوی ته(يعنی کتابيانو ښځو ته) أُجُورَهُنَّ مهرونه د
هغوی مُحۡصِنِينَ محسنين به ياستئ(يعنی مقصد به مو صرف د
هغوی سره د نکاح کول او د خاندان جوړول وي) غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَ نه
داچې مقصد مو په ښکاره بدکاري(او زنا کول وي) وَلَا او نه دا چې
مقصد مو) مُتَّخِذِيٓ أَخۡدَانٖۗ په پټه يارانه(او زنا کول وي) وَمَن
او څوک (چې) يَكۡفُرۡ انکار کوي بِٱلۡإِيمَٰنِ د ايمان (په لاره د تللو
نه،او هسې د خلکو په سترګو کې خاورې شيندې) فَقَدۡ نو بيشکه
حَبِطَ برباد(او تباه) شو عَمَلُهُۥ عمل د ده وَهُوَ او هغه فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت کې مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ د تاوانيانو څخه دی. ۵

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى
ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ
وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ
فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ

ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو (خلکو) ءَامَنُوٓاْ چې ایمان يې راوړئ دی(ای مؤمنانو) إِذَا کله چې قُمۡتُمۡ تاسو پاڅیږئ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ لمانځه ته فَٱغۡسِلُواْ نو وینځئ وُجُوهَكُمۡ مخونه خپل وَأَيۡدِيَكُمۡ او لاسونه خپل إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ د څنګلو پورې وَٱمۡسَحُواْ او مسح کوئ بِرُءُوسِكُمۡ په سرونو خپلو باندې وَأَرۡجُلَكُمۡ او(وینځئ) پښې خپلې إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ د ښنګرو پورې وَإِن او که چیرته كُنتُمۡ یاستئ تاسو(یئ تاسو) جُنُبٗا د جنابت په حالت کې فَٱطَّهَّرُواْۚ نو ځان ښه پاک کړئ(یعنی غسل وکړئ) وَإِن او که چیرته كُنتُم یاستئ تاسو مَّرۡضَىٰٓ مریضان أَوۡ یا عَلَىٰ سَفَرٍ په سفر باندې یاستئ(یئ) أَوۡ یا جَآءَ راشي أَحَدٞ کوم یو مِّنكُم د ستاسو مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ د اودس ماتي څخه أَوۡ یا لَٰمَسۡتُمُ (شرعي) نیزدېکت وکړئ ٱلنِّسَآءَ د ښځو سره فَلَمۡ تَجِدُواْ او(بیا) پیدا نه کړئ مَآءٗ اوبه (چې اودس یا غسل وکړئ) فَتَيَمَّمُواْ نو تیمم ووهئ صَعِيدٗا په خاوره طَيِّبٗا پاکه(باندې) فَٱمۡسَحُواْ نو مسح وکړئ بِوُجُوهِكُمۡ په خپلو مخونو باندې وَأَيۡدِيكُم او په خپلو لاسونو باندې مِّنۡهُۚ د هغې(خاورې) مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ الله تعالی نه غواړي لِيَجۡعَلَ چې جوړه کړي (چې راولي) عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّنۡ حَرَجٖ څه سختي(او تنګسیا) وَلَٰكِن او لیکن يُرِيدُ هغه«جل جلاله» غواړي لِيُطَهِّرَكُمۡ چې پاک کړي تاسو وَلِيُتِمَّ او(غواړي) چې پوره کړي نِعۡمَتَهُۥ نعمت خپل عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَشۡكُرُونَ شکرګزار شئ. ٦

سوال پیدا کیږي چې په اوبو خو ښکاره خبره ده چې سړی پاکیږي،لیکن په خاوره څنګه پاکیږي؟

علمي تحقیقاتو ښودلي ده چې:د اوبو پواسطه هم ډېرې بکتریا مړې کیږي،په دې ډول چې کله اوبه په ځان واچول شي نو اوبه د بکتریاوو بدن ته ننوزي،بکتریا پړسیږي او بلآخره مړه کیږي.مګر برعکس کله چې په خاوره پوستکی مسح شي نو خاوره د بکریا د وجود څخه اوبه جذبوی،چې په نتیجه کې بکتریا غونجیږي او مړه کیږي.او انسان د ډېرو امراضو څخه وقایه کیږي.

وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

وَٱذۡكُرُواْ او یاد کړئ نِعۡمَةَ نعمت ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې وَ او(یاد کړئ) مِيثَٰقَهُ عهد د هغه «جل جلاله» ٱلَّذِي هغه(عهد) وَاثَقَكُم چې هغه «جل جلاله» محکم قول(او وعده)اخستي وه ستاسو نه بِهِۦٓ (په منلو او قبلولو د)هغه(عهد) باندې إِذۡ (یعنی) کله چې: قُلۡتُمۡ تاسو وویل سَمِعۡنَا (چې) واوریده مونږ(وینا ستا) وَأَطَعۡنَاۖ او ومنلو مونږ (فرمان ستا) وَٱتَّقُواْ او وویریږئ ٱللَّهَۚ د الله تعالی څخه إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی عَلِيمُۢ پوه دی بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ په هغو خبرو چې په سینو کې دي(یعنی د زړونو په خبرو پوه دی) ٧

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٨

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلكو ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دى(اى
مؤمنانو) كُونُواْ قَوَّٰمِينَ كلک ولاړ اوسئ لِلَّهِ د الله تعالى دپاره
شُهَدَآءَ شاهدې وركونكې بِٱلۡقِسۡطِ په انصاف باندې(يعنى په
محكمو،عدالتونو،جرګو او نورو ځايونو كې كله چې شاهدې وركوئ
صرف د الله تعالى د پاره به حق خبره كوئ د خپل او پردې،دوست او
دښمن فرق به نه كوئ صرف د الله تعالى رضا به په نظر كې
نيسئ)
وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ او ودې نه هڅوې تاسو شَنَـَٔانُ دښمنې قَوۡمٍ د
يو قوم عَلَىٰٓ په دې باندې چې أَلَّا تَعۡدِلُواْ عدالت ونكړئ(يعنى چې
ستاسو د دښمن او دوست معامله وي،او تاسو په كې شاهدان يئ،او كله
چې ضرورت شي نو بيا شاهدې د دوست دپاره ووايئ،اګر چې په حقه
ستا دښمن وي،نه، داسې به نه كوئ، هيڅكله به عدالت او انصاف د
هيڅچا دپاره نه پرېږدئ بلكې: ٱعۡدِلُواْ عدالت كوئ(انصاف
كوئ،ځكه چې:) هُوَ دغه (عدالت او انصاف) أَقۡرَبُ ډېر نيزدې
دې لِلتَّقۡوَىٰ تقوى ته وَٱتَّقُواْ او ووېرېږئ ٱللَّهَ د الله تعالى
څخه إِنَّ بيشكه چې ٱللَّهَ الله تعالى خَبِيرُۢ خبر دى بِمَا په
هغو(عملونو) تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې كوئ(نو په همدې عقيده او يقين
سره ژوند كوئ چې:زه هر كار كومه الله تعالى پرې خبر دى او الله تعالى
مې ګورې،په ښه كار ثواب او په بد كار جزا راكوي،ان شاءالله چې
هيڅكله به هم نه په دنيا كې او نه په آخرت كې خراب شئ،او كه دا عقيده
مو نه وي نو بيا خو په خپل ايمان ووېرېږئ) ٨
وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٌ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ٩

وَعَدَ ٱللَّهُ وعده کړي ده الله تعالی ٱلَّذِينَ د هغو (خلکو سره)
ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی وَعَمِلُواْ او عملونه یې کړي دي
ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۙ نیک لَهُم (چې) دوی ته مَّغْفِرَةٌ بخښنه ده(په
امتحان کې به کامیاب شي،او نتیجه یعنی عملنامه به په ښي لاس کې
ورکړي) وَأَجْرٌ عَظِيمٌ او ډېر لوی اجر دی( جنت ته به یې داخل
کړي) ۹

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ۱۰

وَٱلَّذِينَ او هغه کسان كَفَرُواْ چې کافران شوي دي وَكَذَّبُواْ او
دروغ یې ویلي دي بِـَٔايَٰتِنَآ زمونږ په آیاتونو باندې أُوْلَٰٓئِكَ دغه
(خلک) أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ دوزخیان دي(د جنت د کور نه به محروم
شي او د جهنم په زندان کې به یې بندي کړي.نور دې هر څوک فکر
وکړي چې د جنت کور ته تلل غواړي او که د جهنم زندان ته؟) ۱۰

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ
أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۱۱

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو کسانو ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی(ای
مؤمنانو) ٱذْكُرُواْ یاد کړئ نِعْمَتَ احسان ٱللَّهِ د الله تعالی
عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِذْ کله چې هَمَّ اراده وکړه قَوْمٌ یو څه
خلکو أَن چې يَبْسُطُوٓاْ دروغځوي إِلَيْكُمْ تاسو ته أَيْدِيَهُمْ
لاسونه خپل(ستاسو د ختمولو دپاره) فَكَفَّ نو هغه«جل جلاله» منع
کړل أَيْدِيَهُمْ لاسونه د هغوی عَنكُمْ ۖ ستاسو نه (یعني د اسلام
دښمنانو په هر وخت کې د مسلمانو او د اسلام د دین د ختمولو کوششونه
کړي دي ،او کوي یې،خو الله تعالی په هره زمانه کې خپل دین او مؤمنان
ساتلي دي،او ساتي به یې، ان شاءالله). وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۚ او د الله تعالی څخه

وويرېږئ وَعَلَى ٱللَّهِ او(خاص)په الله تعالی باندې دې فَلۡيَتَوَكَّلِ
توکل وکړي ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان ١١

۞ وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ
إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ
وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١٢

۞ وَلَقَدۡ او بيشکه أَخَذَ اخستي وه ٱللَّهُ الله تعالی مِيثَٰقَ کلکه
وعده بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ د يعقوب عليه السلام د اولاد څخه(يهود) وَبَعَثۡنَا
او مقرر کړي وو مونږ مِنۡهُمُ د هغوی ٱثۡنَيۡ عَشَرَ دولس نَقِيبٗاۖ
مشران وَقَالَ او وفرمايل ٱللَّهُ الله تعالی(هغوی ته ) إِنِّي
بيشکه زه مَعَكُمۡۖ ستاسو سره يم لَئِنۡ که چيرته أَقَمۡتُمُ تاسو
ادا کړئ ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَءَاتَيۡتُمُ او ورکړئ ٱلزَّكَوٰةَ زکات
وَءَامَنتُم او ايمان راوړئ بِرُسُلِي په(ټولو)پيغمبرانو باندې(داسې نه
چې محمد «صلی الله عليه وسلم او عيسی عليه السلام نه منئ،او سليمان
عليه السلام ته نعوذبالله جادوګر وايئ) وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ او(علاوه د ايمان
راوړلو نه) مرسته وکړئ د هغوی وَأَقۡرَضۡتُمُ او قرض ورکړئ
ٱللَّهَ الله تعالی ته قَرۡضًا قرض حَسَنٗا نيک(يعنی پرته د زکات
څخه د الله تعالی په لار کې مصرف وکړئ،نو که تاسو دا کارونه
وکړئ،نو) لَّأُكَفِّرَنَّ زه به خامخا لرې کړم عَنكُمۡ ستاسو نه
سَيِّـَٔاتِكُمۡ ګناهونه ستاسو وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ او زه به خامخا داخل کړم تاسو
جَنَّٰتٖ جنتونو ته تَجۡرِي چې بهيږي به مِن تَحۡتِهَا د
هغې(جنتونو)لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ نهرونه فَمَن او څوک چې كَفَرَ
انکار وکړي(د ايمان راوړلو او د ذکر شوو احکامو د منلو نه) بَعۡدَ ذَٰلِكَ

پس د دې مِنكُمْ د ستاسو نه فَقَدْ نو بیشکه ضَلَّ بي لارې شو
هغه سَوَآءَ د سمې ٱلسَّبِيلِ لارې څخه(او په لوړو او ژورو سر
شو) ١٢

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن
مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا
قَلِيلًا مِّنْهُمْ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ١٣

فَبِمَا نو په سبب نَقْضِهِم د ماتولو د هغوی(یعنی د یهودیانو)
مِّيثَٰقَهُمْ د وعدو د هغوی(چې د تورات په منلو سره یې کړي وي چې
مونږ به په نورو پیغمبرانو په خاص ډول په نبي اخرزمان«صلی الله علیه
وسلم» باندې ایمان راوړو او مرسته به ورسره کوو) لَعَنَّٰهُمْ لعنت
وکړو مونږ په هغوی وَجَعَلْنَا او وګرځول مونږ قُلُوبَهُمْ زړونه د
دوی قَٰسِيَةً سخت(یعنی د الله تعالی په عدالت کې د دې مستحق شو
چې: الله تعالی پرې لعنت وکړي او زړونه ئې سخت کړي،اوس یې حال
داسې دی چې: ) يُحَرِّفُونَ بدلوې(په تورات کې) ٱلْكَلِمَ الفاظ(د
الله تعالی) عَن مَّوَاضِعِهِۦ د خپلو ځایونونه(یعنی په تورات کې تحریف
کوي،د محمد«صلی الله علیه وسلم»زیرې او صفتونه او دقصاص
قانون.....وغیره ترې لرې کوي) وَنَسُواْ او هیره کړې دوی(یعنی
دوی قصداً په اختیاري ډول پریښې ده) حَظًّا یوه حصه مِّمَّا د
هغو (آیاتونو د تورات څخه) ذُكِّرُواْ چې نصیحت شوئ وو دوی ته
بِهِۦ په هغې (آیاتونو باندې یعنی د نبي علیه السلام زیرې او صفتونه
یې قصداً پریښې دي) وَلَا تَزَالُ او همیشه به تَطَّلِعُ خبریږې ته
عَلَىٰ په خَآئِنَةٍ په یو خیانت مِّنْهُمْ د دوی(یعنی هره ورځ به د
دوی د نوي-نوي فساد په باره کې خبرې اورې، چې نن ئې غلا کړې،نن

ئې قتل کړئ دی،نن ئې زنا کړي ده....و غیره وغیره) إِلَّا مګر
قَلِيلًا ډېر لږ مِّنۡهُمۡۖ د دوی(به سم وي چې جرمونه او فساد به نه
کوي) فَٱعۡفُ نو عفوه کوه عَنۡهُمۡ هغوی ته وَٱصۡفَحۡۚ او مخ
اړوه(هغوی ته د جزا ورکولو نه) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی يُحِبُّ
خوښوي ٱلۡمُحۡسِنِينَ احسان کوونکي. ١٣

وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ
فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُواْ
يَصۡنَعُونَ ١٤

وَمِنَ ٱلَّذِينَ او د هغو خلکو څخه قَالُوٓاْ چې دوی وايي إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ
بیشکه مونږ نصاری یو(او د الله د دین سره مرسته کوو). أَخَذۡنَا
اخستي وه مونږ مِيثَٰقَهُمۡ کلکه وعده د دوی(په انجیل کې په توحید چې
الله به یو منئ او عیسی علیه السلام ته به خدای نه وایئ صرف د الله
پیغمبر به يې منئ،او مرسته به ورسره کوئ،او په نبي اخرزمان باندې به
ایمان راوړئ او مرسته به ورسره کوئ) فَنَسُواْ نو هیره کړه
دوی(قصداً لکه د یهودیانو په شان) حَظّٗا یو برخه مِّمَّا د هغو
آیتونو ذُكِّرُواْ چې دوی ته نصیحت شوئ وو بِهِۦ په هغې آیاتونو
باندې(یعنی هغه آیاتونه يې قصداً پریښودل چې دوی ته په نبي علیه السلام
باندې د ایمان راوړلو نصیحت په کې شوئ وو) فَأَغۡرَيۡنَا نو(د دوی د
دې ګستاخئ او نافرمانئ په وجه) مونږ واچوله بَيۡنَهُمُ د د دوی په منځ
کې ٱلۡعَدَاوَةَ دښمني وَٱلۡبَغۡضَآءَ او کینه إِلَىٰ يَوۡمِ د ورځې
ٱلۡقِيَٰمَةِۚ د قیامت پورې(یعنی په دنیا کې الله تعالی په خپل منځ کې د
دښمنئ په عذاب اخته کړل،او تر څو چې په قرآنکریم او محمد«صلی الله
علیه وسلم»باندې ایمان رانوړي د قیامت پورې به په دې عذاب اخته وي)

وَسَوْفَ او زر به يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ الله تعالى خبر کړي دوی بِمَا په هغو(عملونو) كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ چي دوی به کول(يعنی هر يو ته به خپله عملنامه د ثبوتونو سره ورکړي) ١٤

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَعْفُوا۟ عَن كَثِيرٍ ۚ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ١٥

يَهْدِى بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذْنِهِۦ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ١٦

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ای د کتاب خاوندانو قَدْ بيشکه جَآءَكُمْ راغلئ تاسو ته رَسُولُنَا پيغمبر زمونږ يُبَيِّنُ چي ښکاره کوي لَكُمْ تاسو ته(د وحي پواسطه) كَثِيرًا ډيري مِّمَّا د هغو(خبرو څخه) كُنتُمْ تُخْفُونَ چي پټولي تاسو مِنَ ٱلْكِتَٰبِ د کتاب (د الله تعالى نه يعنی چي د توحيد او قصاص احکام او د محمد صلى الله عليه وسلم بشارتونه مو د تورات او انجيل څخه د دې دپاره پټ کړي دي چي څوک يې ونه پيژني چي دا هغه پيغمبر دی چي په تورات او انجيل کې ئې د راتللو زيری ورکول شوئ دی،او هسې نه چي ايمان پرې رانوړي.) وَيَعْفُوا۟ او عفوه کوي(او تيريږي درته) عَن كَثِيرٍ ۚ د ډيرو (خبرو نه،د دې دپاره چي زيات رسوا او شرمينده نشئ.او همدارنګه پرته د شک څخه) قَدْ يقيناً جَآءَكُم راغلئ تاسو ته مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى د طرف څخه نُورٌ رڼا وَكِتَٰبٌ او کتاب مُّبِينٌ روښانه (قرآنکريم) ١٥

يَهْدِى چي هدايت کوي بِهِ په دې (د رڼا نه ډک او روښانه کتاب باندې) ٱللَّهُ الله تعالى مَنِ هغه چا ته ٱتَّبَعَ چي لټوي

رِضۡوَٰنَهُۥ رضاء د هغه«جل جلاله» سُبُلَ د لارو ٱلسَّلَٰمِ د سلامتيا (يعنى د الله تعالى د رضاء د لاس ته راوړلو او هغه «جل جلاله ته د رسيدلو تولې طريقې او لارې په قرآنكريم كې دي،خو چې څوک يې غواړي ،په قرآنكريم دې ځان پوه كړي او عمل دې وربانديې وكړي ان شاءالله چې مقصد ته به ورسيږي.) وَيُخۡرِجُهُم او(همدارنګه «الله تعالى» په قرآنكريم سره) راوباسي هغوى(يعنى هغه خلک چې د الله تعالى په لټه كې دي او قرآن لولي او عمل پرې كوي) مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ د تيارو څخه إِلَى ٱلنُّورِ رڼا ته بِإِذۡنِهِۦ د هغه«جل جلاله» په توفيق سره وَيَهۡدِيهِمۡ او هدايت كوي هغوى ته إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ سمې لارې ته(يعنى ټول هغه شكمن او (ايګناستيک) خلک چې لار تري وركه ده،او د الحاد ،شرک او كفر په تيارو كې ګرځي،شپه او ورځ د حق په تلاش كې دي،نه پوهيږي چې حق كوم دى او باطل كوم،څوک يې په فلسفو كې لټوي،څوک ئې د ساينس په كتابو كې لټوي،څوک يې د ماركس او لينن په كتابو كې لټوي،څوک يې په كليساګانو،بايبل او مندرونو كې لټوي،مګر د حق د پيژندلو او حق ته د رسيدلو يواځينى منبع قرآنكريم دى،او پرته د قرآنكريم د لارې څخه هره لار انسان حق ته نه رسوې بلكې دوزخ ته يې رسوې، او صرف يوازې د قرآن لار ده چې انسان حق او جنت ته رسوي ) ١٦

لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا
إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِى ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧

لَّقَدۡ بيشكه كَفَرَ كافران دي ٱلَّذِينَ هغه خلک قَالُوٓاْ چې وايي إِنَّ بيشكه ٱللَّهَ الله هُوَ ٱلۡمَسِيحُ همدا مسيح «عليه السلام»

ٱبْنُ مَرْيَمَ ۚ ځوی د مريم«عليهاالسلام» دی(يعنی ځوک چې وايې چې عيسی عليه السلام الله دی،هغه کافر دی) قُلْ ورته ووايه فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا نو ځوک د الله تعالی په وړاندې د څه شي اختيار لرې(يعنی څوک دا طاقت لرې چې:الله تعالی منع کړي؟) إِنْ که هغه «جل جلاله» أَرَادَ اراده وکړي أَن چې يُهْلِكَ هلاک کړي ٱلْمَسِيحَ مسيح«عليه السلام» ٱبْنَ مَرْيَمَ ځوی د مريم «عليهاالسلام» وَأُمَّهُۥ او مور د هغه«عليه السلام» وَمَن او څوک چې فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې دي جَمِيعًا ۗ ټول(جواب دا دی،چې هيڅوک په کائناتو کې داسې نشته،چې د الله تعالی د ارادې مخه ونيسې،او يا الله تعالی«جل جلاله) چې کوم کار کوي او څوک يې منع کړي) وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالی ده مُلْكُ پاچاهي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او ځمکې وَمَا او هغه(څه) بَيْنَهُمَا ۚ چې د دې دواړو په منځ کې دي (يعنی کائنات صرف يو بادشاه لرې چې الله تعالی دی،نه ورسره کوم پيغمبر او نه ورسره کوم نيک بنده او نه ورسره رام او کريشنا....و غيره په پاچاهۍ کې شريک دي) يَخْلُقُ پيداکوي مَا هغه (څه) يَشَآءُ ۚ چې هغه«جل جلاله» يې غواړي(داسې نه ده،لکه ملحدين خصوصاً ملحدين ساينسدانان چې وايې چې کائنات پخپله پيدا شوي دي او پخپله چليږي،بلکې کائنات د کائناتو خالق او د کائناتو پادشاه پيداکړي دي،او پخپله يې چلوي،هره ورځ په کائناتو کې د «کُن فيکُون» اوازونه دي،بې حسابه ستورې او کهکشانونه پيدا کوي،او بې حسابه فناه کوي،په لکهاو انسانان او په ټريليونونو ژوندې مخلوقات روزمره پيدا کوي،او په لکهاوو او ټريليونونو مره کوي،روز مره بې حسابه مخلوقات پيدا کوي او بې حسابه فناه کوي،د (۷)آسمانونو او ځمکې بې حسابه مخلوقات او بې حسابه فوجونه کنټرولوي،ټولو ته رزق ورکوي،او ټولو مخلو قاتو ته په

کائناتو کې د کار کولو هدایات او د کار کولو انرژي ورکوي) وَٱللَّهُ
او الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍۢ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی(لحظه
په لحظه د کائناتو د نظام په چلولو او کنټرولو باندې الله تعالی ښه قادر
دی،نه څوی ته ضرورت لري او نه کوم شریک ته) ١٧

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَـٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ بَلْ
أَنتُم بَشَرٌۭ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ١٨

وَقَالَتِ او وایي ٱلْيَهُودُ یهود وَٱلنَّصَـٰرَىٰ او نصارئ نَحْنُ چې
مونږ أَبْنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ د الله تعالی ځامن وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ ۚ او دوستان یو قُلْ
ته(ورته)ووایه فَلِمَ نو (بیا) ولې يُعَذِّبُكُم عذاب درکوي تاسو ته
بِذُنُوبِكُم ۖ ستاسو په ګناهونو باندې؟(ځکه چې څوی او دوست ته خو
څوک عذاب نه ورکوي حال دا چې تاسو پخپله اقرار کوئ چې الله تعالی
عذاب راکوي مګر لږ.) بَلْ بلکې(حقیقت دا دی چې) أَنتُم تاسو
بَشَرٌۭ انسانان یئ(یاستئ) مِّمَّنْ د هغو (نورو انسانانو د جملې) څخه
خَلَقَ ۚ چې هغه«جل جلاله»پیدا کړي دي(یعنی تاسو هم لکه نور
انسانان چې الله تعالی پیداکړي دي،د هغوی په شان انسانان یئ،نه د الله
تعالی ځامن یئ او نه يې دوستان یئ،کوم قانون چې د نورو انسانانو دپاره
دی هغه ستاسو دپاره هم دی او هیڅچا امتیاز نلرئ.) يَغْفِرُ هغه«جل
جلاله) بخښنه کوي لِمَن چا ته يَشَآءُ چې غواړي وَيُعَذِّبُ او
عذاب ورکوي مَن يَشَآءُ ۚ چا ته چې غواړي وَلِلَّهِ او خاص د الله
تعالی ده مُلْكُ بادشاهي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او د
ځمکې وَمَا او هغه(څه) بَيْنَهُمَا ۖ چې د ځمکې او آسمانونو په
منځ کې دي(ټول د الله تعالی ملکیت دي) وَإِلَيْهِ او هغه«جل جلاله» ته

ٱلْمَصِيرُ ورتلل دي.(نو د هر چا سره به حساب وکړي او د عمل جزا به
ورکړي) ١٨

يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلَىٰ فَتْرَةٍۢ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُوا۟ مَا
جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍۢ وَلَا نَذِيرٍۢ ۖ فَقَدْ جَآءَكُم بَشِيرٌۭ وَنَذِيرٌۭ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍۢ قَدِيرٌۭ
١٩

ضروري معلومات.

د عیسي علیه السلام او نبي اخرزمان په منځ کې تقريباً د ٦٠٠ کلونو په موده کې بل پیغمبر نه وو راغلئ،وحي قطع وه(بنده وه)،دي ته د فَتْرَت زما نه وايي.

يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ اى د کتاب خاوندانو(اى يهود او نصاراوو) قَدْ بيشکه جَآءَكُمْ راغلئ تاسو ته رَسُولُنَا زمونږ رسول(محمد«صلى الله عليه وسلم» يُبَيِّنُ چې بيانوي لَكُمْ تاسو ته (دين ستاسو) عَلَىٰ فَتْرَةٍۢ په وخت د بنديدلو مِّنَ ٱلرُّسُلِ د رسولانو کې(يعنى محمد «صلى الله عليه وسلم»تاسو ته د فترت په زمانه کې راغئ،وحي بنده وه،پخواني اديان تحريف شوي وو،خلک د شرک او جهالت په تيارو کې سرګردانه ګرځيدل،د دي دپاره:) أَن چې(د حشر په ميدان کې د حساب په وخت کې) تَقُولُوا۟ تاسو ونه وايئ مَا جَآءَنَا چې نه وو راغلئ مونږ ته مِنۢ بَشِيرٍۢ خوک زيرى ورکونکئ(چې د جنت د نعمتونو ښخه يې خبر کړي وو) وَلَا نَذِيرٍۢ ۖ او نه خوک ويرونکئ (چې د جهنم د عذاب ښخه يې خبر کړي وو) فَقَدْ نو بيشکه جَآءَكُم راغئ تاسو ته بَشِيرٌۭ زيرى درکوونکئ وَنَذِيرٌۭ ۗ او ويره ونکئ وَٱللَّهُ او الله

تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍۢ قَدِيرٌ په هر شي باندې قادر دی.(یعنی که په نبي علیه السلام او قرآنکریم باندې ایمان راوړئ،نو د ثواب په درکولو،او که انکار وکړئ نو د عذاب په درکولو قادر دی) ١٩

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَـٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ
وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ ٢٠

وَإِذْ او کله چې قَالَ وویل مُوسَىٰ موسی«علیه السلام» لِقَوْمِهِۦ خپل قوم ته يَـٰقَوْمِ (چې) ای ځما قومه! ٱذْكُرُوا۟ یاد کړئ نِعْمَةَ ٱللَّهِ نعمت د الله تعالی عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِذْ ځکه چې جَعَلَ هغه «جل جلاله» پیدا کړي دي فِيكُمْ په تاسو کې أَنۢبِيَآءَ پیغمبران وَجَعَلَكُم او جوړ کړي ئې یاستئ تاسو(او جوړ کړي ئې یئ تاسو) مُّلُوكًا بادشاهان وَءَاتَىٰكُم او درکړي ئې دي تاسو ته مَّا هغه(څه) لَمْ يُؤْتِ چې نه دي ورکول شوي أَحَدًا هیڅ چا ته مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ د عالمونو څخه(یعنی تاسو ئې د فرعون د غلامی څخه خلاص کړئ،دملک خاوندان ئې کړئ،د من او سلوی په شان آسماني نعمتونه ئې درکړل چې په دنیا کې ئې د بل پیغمبر امتیانو ته نه دي ورکړي.) ٢٠

يَـٰقَوْمِ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ
فَتَنقَلِبُوا۟ خَـٰسِرِينَ ٢١ قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ
يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ٢٢ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ
يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَـٰلِبُونَ ۚ
وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ٢٣

د یوهیدلو دیاره د یوڅه معلومات ذکر کول ضرور دي.

کله چې په تورات کې بني اسرائيلو ته د جهاد حکم راغئ،نو موسى عليه السلام ورته وويل چې مقدسې ځمکې ته د جهاد کولو پواسطه داخل شئ ،د مقدسې ځمکې په باره کې القرطبي رحمةالله عليه او حافظ ابن کثير رحمةالله عليه ليکي چې د ا د يعقوب عليه السلام او د هغه د اولادونو مسکن وو،خو کله چې يعقوب عليه السلام د خپلو اولادونو سره د يوسف عليه السلام په حکم مصر ته لاړو،نو په دې ځاى يعنى په دې مقدسه ځمکه باندې د عمالقه قوم قبضه وکړه ،او د عمالقه قوم په کې اوسيدل،دا خلک بت پرست او مشرکان وو،نو کله چې ورته د نومووړو خلکو سره د جهاد کولو امر وشو چې دا مقدسه ځمکه ترې ونيسئ،نو دوى خو اول چون او چرا وکړه،بيا يې ۱۲ مشران د عمالقه د قوم د حال د معلومولو دپاره د جاسوسۍ په قسم ورغلل،نو په دوى کې لس مشران خو د تاثير لاندې راغلل او د هغوى څخه ويريدل،او دوه مشران چې ايمانونه يې قوي وه،کلک پاتې شو،په الله تعالى يې يقين وکړو او خپلو قومونو ته يې وويل چې زمونږ سره د الله تعالى کومک او مدد دى،ورځو،الله تعالى به فتحه راکړي،خو نورو لسو مشرانو بيا خپلو قومونو ته وويل چې عمالقه ډير زورور دي تاسو د هغوى د زوره نه يئ که ورغلئ ټول به ختم شئ،نو موسى عليه السلام ته يې وويل چې ته او ستا رب ورشئ جنګ وکړئ او مونږ به درته دلته ناست يو،کله چې عمالقه ووتل او ځاى خالي شو نو مونږ به بيا درشو،او پخپله يې د جهاد څخه انکار وکړو.نو الله تعالى ۴۰ کلونه په ميدان پريښودل يوې خوا ته هم نه شو تللاى،موسى او هارون عليهم السلام وفات شول،او د دوى مشران هم مړه شول،نو د يوشع عليه السلام د نبوت په وخت کې د دوى کشرانو جهاد ته غاړه کيښوده او د يوشع عليه السلام په مشرۍ يې جهاد وکړو، مقدسه ځمکه يې ونيوله، او ورداخل شو.

يَٰقَوۡمِ (موسی عليه السلام وويل) اي ځما قومه ٱدۡخُلُواْ داخل شئ
ٱلۡأَرۡضَ ځمکي ٱلۡمُقَدَّسَةَ پاکې ته ٱلَّتِي هغه(پاکه ځمکه) كَتَبَ
چې ليکلي ده ٱللَّهُ الله تعالی لَكُمۡ تاسو ته وَلَا تَرۡتَدُّواْ او تاسو
مه ګرځئ عَلَىٰٓ أَدۡبَارِكُمۡ په شاګانو خپلو(په شا مه ګرځئ.او که په شا
لاړ شئ) فَتَنقَلِبُواْ نو وبه ګرځئ (او شئ به) خَٰسِرِينَ تاوانيان
۲۱

قَالُواْ دوی وويل يَٰمُوسَىٰٓ ای موسی«عليه السلام» إِنَّ بيشکه
فِيهَا په دې(مقدسه ځمکه کې) قَوۡمٗا جَبَّارِينَ يو زوررور
قوم(اوسيږي) وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا مونږ به هيڅکله داخل نشو دې(پاکې
ځمکې ته) حَتَّىٰ تر څو چې يَخۡرُجُواْ هغوی ووځي مِنۡهَا د دې
(مقدسې ځمکې څخه) فَإِن نو که چيرته يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا هغوی
ورڅخه وځي فَإِنَّا دَٰخِلُونَ نو (بيا) حتماً مونږ ورننوتونکي
ياستو.(يعنی کله چې د عمالقه د قوم خلک ووځې نو بيا به مونږ ورشو)
۲۲ قَالَ وويل رَجُلَانِ دوه کسانو(يعنی دوه قومې مشرانو) مِنَ
ٱلَّذِينَ د هغو( دولس مشرانو د جملې نه،کوم) يَخَافُونَ چې ويريدل
(د الله تعالی څخه) أَنۡعَمَ ٱللَّهُ (او)الله تعالی انعام(او احسان) کړئ وو
عَلَيۡهِمَا په هغوی دواړو باندې(نو دې دواړو مشرانو خپلو قومونو ته
وويل) ٱدۡخُلُواْ چې ورننوځئ عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې ٱلۡبَابَ د
دروازې(د لارې،يعنی د کلي يا ښار د دروازې دلارې حمله وکړئ)
فَإِذَا نو کله چې دَخَلۡتُمُوهُ تاسو داخل شئ هغې(دروازې) ته
فَإِنَّكُمۡ نو بيشکه چې تاسو به غَٰلِبُونَۚ غالبه(او کامياب) شئ
وَعَلَى ٱللَّهِ او خاص په الله تعالی باندې فَتَوَكَّلُوٓاْ توکل وکړئ إِن
كُنتُم که چيرته ياستئ تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان ۲۳

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُواْ فِيهَا ۖ فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا
هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ٢٤ قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ
ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ٢٥ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ ۛ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى
ٱلْأَرْضِ ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ٢٦ ۞

قَالُواْ (د موسى عليه السلام قوم) وويل يَٰمُوسَىٰٓ اى موسى«عليه السلام» إِنَّا بيشكه مونږ لَن نَّدْخُلَهَآ به داخل نه شو دې(پاکې ځمکې)ته أَبَدًا هيڅکله مَّا دَامُواْ تر څو چې دوى وي فِيهَا ۖ په دې(پاکه ځمکه کې،يعنى قوم موسى «عليه السلام»ته وويل د څو پورې چې د عمالقه د قوم خلک په پاکه ځمکه کې وي،مونږ قطعاً نه ورځو) فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ نو ته او ستا رب ورشئ فَقَٰتِلَآ او دواړه جنګ وکړئ(د عمالقه د قوم سره) إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ (او)مونږ به دلته ناست ياستو. ٢٤ قَالَ (نو موسى«عليه السلام») وويل رَبِّ اى ځما ربه إِنِّى بيشکه زه لَآ أَمْلِكُ اختيار نه لرم إِلَّا مګر نَفْسِى د خپل ځان وَأَخِى ۖ او ځما د ورور(هارون«عليه السلام» اختيار لرم «يعنى ورور مې اطاعت کوي او خبره مې مني»نو موسى عليه السلام ډېر خفه شو،او د ډېر خفګان په حالت کې ئې وويل چې: اى الله!) فَٱفْرُقْ جدايي راوله بَيْنَنَا په منځ زمونږ وَبَيْنَ او په منځ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ د فاسق(او نافرمانه)قوم کې(يعنى اى الله ما د دوى نه جدا کړه) ٢٥ قَالَ الله تعالى وفرمايل فَإِنَّهَا بيشکه دا (پاکه ځمکه) مُحَرَّمَةٌ حرامه (او بنده)ده عَلَيْهِمْ ۛ په دوى باندې أَرْبَعِينَ څلويښت سَنَةً ۛ کلونه يَتِيهُونَ چې حيران (او سرګردان) به ګرځي فِى ٱلْأَرْضِ ۚ په ځمکه کې(يعنى څلويښت کلونه د «تيه» په دشته کې حيران او سرګردان ګرځيدل،آسماني رزق من او سلوى وربادې بند شو،د تيښتې لار ترې ورکه وه،او په دنياوي عذاب الله تعالى اخته کړي وو،نو الله

تعالی موسی علیه السلام ته فرمايي:) فَلَا تَأْسَ نو ته مه خفه کيږه
عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ په فاسق(او نافرمانه)قوم باندې.(يعنی به داسې
نافرمانه قوم باندې مه خفه کيږه) ٢٦

۞ وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱبْنَىْ ءَادَمَ بِٱلْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ
يُتَقَبَّلْ مِنَ ٱلْـَٔاخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ٢٧ لَئِنۢ بَسَطتَ
إِلَىَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِى مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٍ يَدِىَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَۖ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ
٢٨ إِنِّىٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثْمِى وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ
ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ٣٠
فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوَٰرِى سَوْءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ
يَٰوَيْلَتَىٰٓ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا ٱلْغُرَابِ فَأُوَٰرِىَ سَوْءَةَ أَخِىۖ فَأَصْبَحَ مِنَ
ٱلنَّٰدِمِينَ ٣١

۞ وَٱتْلُ او بيان کړه عَلَيْهِمْ دوی ته نَبَأَ خبر ٱبْنَىْ د دوه
ځامنو ءَادَمَ د آدم «عليه اسلام» بِٱلْحَقِّ په رښتيا سره(ځکه چې
خلک په دې باره کې زياتئ او کمئ کوي او د قرآن خبر حق او رښتيا
دی،نو دا صحيح خبر خلکو ته ورسوه.) إِذْ کله چې (د آدم«عيله
السلام» قَرَّبَا قُرْبَانًا دوه(ځامنو)قرباني وکړه فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا نو
د هغوی څخه د يو (ورور قرباني) قبوله شوه وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ ٱلْـَٔاخَرِ
او د بل(ورور قرباني) قبوله نه شوه(د مشر ورور قابيل نوم وو،او د کشر
ورور هابيل نوم،دواړو قرباني وکړه،په هغې زمانه کې د قربانی د
قبولوالي نښه دا وه چې:د آسمان نه به اور راغئ او د چا قرباني به چې
قبوله شوي وه،هغه به يې پورته کړه،نو کله چې قابيل او هابيل قرباني
وکړه نو د آسمان نه اور راغئ د هابيل قرباني يې پورته کړه او د قابيل

يې پورته نکړه،نو قابيل ته حسد او غصه ورغله او هابيل ته ئې قَالَ
وويل لَأَقْتُلَنَّكَ ۖ چې خامخا به زه تا وژنم قَالَ (هابيل قابيل ته په
جواب کې) وويل إِنَّمَا بيشکه خبره(او حقيقت) دا دی. يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ
مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ چې الله تعالى د پرهيز ګارانو(او متقيانو) قرباني قبلوي(نو
مشکل په ما کې نه دی،بلکې په پخپله په تا کې دی،ځان اصلاح کړه او
تقوی په ځان کې پيدا کړه،ستا قرباني به هم الله تعالى قبوله کړي)٢٧ لَئِنْ
(او) که ته بَسَطتَ راغځوې إِلَيَّ ماته يَدَكَ خپل لاس لِتَقْتُلَنِى
چې ما مړ کړي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٍ (ليکن) زه درغځونکئ نه يم يَدِىَ د
خپل لاس إِلَيْكَ تا ته لِأَقْتُلَكَ ۖ چې تا مړ کړم (يعنى که ته ځما د
مرګ اراده لرې او غواړې چې ما مړ کړې خو زه نه غواړم چې زه هم
ستا په شان ستا د مرګ اراده وکړم چې د خپل ځان څخه دې
مخکې مړ کړم،ځکه چې:) إِنِّىٓ بيشکه زه أَخَافُ ٱللَّهَ د الله تعالى
څخه ويريږم رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ چې رب د عالمونو دی. ٢٨ إِنِّىٓ
بيشکه زه أُرِيدُ غواړم أَن تَبُوٓأَ چې ته ماخوذ ( او ونيول) شې
بِإِثْمِى ځما په ګناه باندې(يعنى زه خو ستا د وژلو اراده نه کوم،او نه په
تا اول حمله کوم،خو که ته په ما حمله وکړې،او ځما څخه د ځان نه د
دفاع کولو په حال کې ته ووژل شې نو دا ستا د قتلولو ګناه به ستا په غاړه
وي ځکه چې اوله حمله به تا کړې وي)، وَإِثْمِكَ او ستا خپله ګناه(يعنى
که ته ما مړ کړې نو دا ګناه به هم ستا په غاړه وي،مطلب دا چې که ته ما
مړ کړې او يا زه تا مړ کړم دوه طرفه ګناه ستا په غاړه کيږي،او که
چيرته داسې وکړې چې په ما د مرګ حمله وکړې،او کوم يو مړ شې)
فَتَكُونَ نو ته به شې مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ۚ د دوزخيانو څخه(يعنى داسې
مه کوه چې دوزخ ته به لاړ شې) وَذَٰلِكَ او(دوزخ ته به ځکه ځې چې
د الله د طرف څخه) دا جَزَٰٓؤُا۟ جزا ده ٱلظَّٰلِمِينَ د (داسې) ظالمانو

دپاره(چې په ناحقه د بل وینې تویوې،مګر د هابیل د دومره خبرو سره-سره ) ۲۹ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ هغه وهڅولو نَفْسُهُۥ نفسې خواهشاتو قَتْلَ وژلو أَخِيهِ د خپل ورور ته فَقَتَلَهُۥ نو خپل ورور یې مړ کړو فَأَصْبَحَ او شو مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ د تاوانیانو ځینې.(ځرنګه چې په دنیا کې دا اول قتل او مړی وو،نو قابیل نه پوهیدو چې د ورور یا هابیل په مړ شوي جسد څه وکړي،یوه میاشت یې ګرځولو،خو نه پوهیدو چې څه وکړي) ۳۰ فَبَعَثَ نو (بیا ورته) راولیږلو ٱللَّهُ الله تعالی غُرَابًا یو قارغه يَبْحَثُ چې کنده یې ویستله فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې لِيُرِيَهُۥ د دې دپاره چې وروښایې هغه ته(قابیل ته) كَيْفَ چې څنګه يُوَٰرِى پټ کړي سَوْءَةَ (مړ شوئ) جسد أَخِيهِ ۚ د خپل ورور (نو کله چې قابیل قارغه ولیدلو چې ځمکه یې کنده کړه او یو شی یې په کې ښخ کړو،نو ) قَالَ هغه وویل يَـٰوَيْلَتَىٰٓ افسوس څما په حال! أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَـٰذَا ٱلْغُرَابِ چې:ما د دې قارغه په شان هم ونه شو کولای فَأُوَٰرِىَ چې پټ کړئ مې وو سَوْءَةَ (مړ) جسد أَخِى ۖ د خپل ورور فَأَصْبَحَ نو شو مِنَ ٱلنَّـٰدِمِينَ د پښېمانه کېدونکو څخه.(یعنی یوه میاشت د مړ جسد په ګرځولو پښېمانه شو چې کاشکې چې مخکې مې ښخ کړئ وو.) ۳۱

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ۳۲

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ په دې سبب(چې ناحقه قتل کول لوی جرم دی،) كَتَبْنَا مونږ حکم کړئ وو عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ په بني اسرآئیلو باندې،(په

تورات کې) أَنَّهُۥ مَن چې هغه څوک قَتَلَ چې وژني نَفۡسًۢا يو
انسان بِغَيۡرِ نَفۡسٍ پرته د بل يو انسان(د قصاص څخه) أَوۡ
يا(پرته ) فَسَادٖ د يو فساد (د کولو څخه) فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه
کې(يعنی چې نه ئې څوک بې ګناه وژلئ وي،او نه ئې داسې کوم فساد
کړئ وي چې د مرګ جزا ورکول شي،نو که داسې بی ګناه انسان څوک
وژني) فَكَأَنَّمَا نو(د داسې انسان وژل) داسې دي لکه قَتَلَ ٱلنَّاسَ
جَمِيعٗا چې ټول انسانان ووژني وَمَنۡ أَحۡيَاهَا او څوک چې د يو
انسان ژوند بچ کړي فَكَأَنَّمَآ نو (دا د يو انسان ژوند بچ کول)داسې
دي لکه أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ د ټولو انسانانو ژوند چې بچ کړي وَلَقَدۡ
او يقيناً جَآءَتۡهُمۡ راغلي وو بني اسرآئيلو ته رُسُلُنَا پيغمبران زمونږ.
بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه نښو سره ثُمَّ إِنَّ كَثِيرٗا بيشکه بيا(هم) ډېر مِّنۡهُم
د هغوی بَعۡدَ ذَٰلِكَ د دې( پيغمبرانو د راتلو څخه) وروسته فِي
ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې لَمُسۡرِفُونَ د حد څخه تيريدونکي(او زياتي
کوونکي) دي. ٣٢

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن
يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ
ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ٣٣

إِنَّمَا بيشکه جَزَٰٓؤُاْ جزا ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) يُحَارِبُونَ چې
جنګ کوي ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د هغه«جل جلاله» د
پيغمبر سره(يعنی د اسلامي حکومت پواسطه د جوړ شوي اسلامي نظام
په خلاف جنګيږي،تر څو چې اسلامي نظام چپه او ختم کړي او په ځای
يې يو فاسد نظام جوړ کړي) وَيَسۡعَوۡنَ او کوشش کوي فِي ٱلۡأَرۡضِ
په ځمکه کې(يعنی په هغه منطقه کې چې د اسلامي حکومت پواسطه په

کې اسلامي نظام قائم او نافذ شوئ وي او د امنيت او نظم کنټرول يې د اسلامي حکومت په غاړه وي،او دوی هلته :) فَسَادًا د فساد(راوستلو کوشش کوي،خلک وژني، غلاګاني کوي،ډاکې اچوي او په منطقه کې بد امني او ويره پيدا کوي،نو د داسې خلکو جزا دا ده) أَن يُقَتَّلُوٓاْ چې ودې وژل شي أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ يا دې په دار وځړول شي أَوۡ تُقَطَّعَ يا دې غوڅ شي أَيۡدِيهِمۡ لاسونه د دوی وَأَرۡجُلُهُم او پښې د دوی مِّنۡ خِلَٰفٍ رد او بدل(يعنی ښی لاس او چپه پښه يا چپه پښه او ښی لاس) أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ او يا دې په زندان کې واچول شي ذَٰلِكَ (او) دغه(وژل،پانسي کول،لاسونه او پښې غوڅول او په زندان کې اچول،خو) لَهُمۡ د دوی دپاره خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ (صرف) په دنيا کې ذلت(او رسوايي) ده(خو د دنيا په دې عذاب د آخرت د عذاب څخه نه خلاصيږي) وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ او په آخرت کې د دوی دپاره عَذَابٌ عَظِيمٌ ډېر غټ عذاب دی (يعنی اصلي سخت او لوی عذاب خو جهنم کې ورکول کيږي چې نه به مړ کيږي او نه به ژوندی کيږي) ٣٣

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبۡلِ أَن تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهِمۡۖ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٤

إِلَّا ٱلَّذِينَ مګر هغه (خلک د دې فساد کوونکو او د اسلامي نظام په خلاف د جنګيدونکو ) تَابُواْ چې توبه وباسي مِن قَبۡلِ مخکې د دې څخه أَن تَقۡدِرُواْ چې تاسو وتوانيږئ عَلَيۡهِمۡۖ په هغوی باندې(چې ګرفتار يې کړئ،يعنی که په خپله خوښه د فساد څخه لاس واخلي،توبه وباسي ،ځانونه تسليم او اصلاح کړي،او په آينده کې د اسلامي نظام مخالفت نه کوي ) فَٱعۡلَمُوٓاْ نو پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ بيشکه چې الله تعالی غَفُورٞ بخښوونکئ رَّحِيمٞ او مهربان دی(په دې باره کې د امام

احمد«رحمةالله عليه»مذهب داسې دی چې شيخ الاسلام ابن تيمية هم غوره کړئ دی،او حافظ ابن قيم«رحمةالله عليه د ابو موسى اشعرى،على بن ابى طالب،او ابوهريرة رضى الله عنهم واقعات ذکر کړي دي چې:که يو سړی مسلمان دی او قطاع الطريق ګرځيدلئ دی،نو دا سړی د کفارو په حکم کې دی، که په خپله خوښه توبه وباسي،نو هر څه ورته معاف دي،او دا آيت عام دی،کافر او مسلمان دواړو ته شامل دی.)٣٤

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓا۟ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ وَجَـٰهِدُوا۟ فِى سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ٣٥ إِنَّ

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو کسانو ءَامَنُوا۟ چې ايمان يې راوړئ دی(ای مؤمنانو) ٱتَّقُوا۟ ويريږئ ٱللَّهَ د الله تعالى څخه وَٱبْتَغُوٓا۟ او غواړئ(او طلب کوئ) إِلَيْهِ هغه «جل جلاله» ته ٱلْوَسِيلَةَ قرب(او نيزدې کيدل) وَجَـٰهِدُوا۟ او جهاد کوئ فِى سَبِيلِهِۦ د هغه«جل جلاله» په لار کې لَعَلَّكُمْ د دې دپاره تُفْلِحُونَ چې کامياب شئ(چې د دوزخ څخه بچ شئ او جنت ته لاړ شئ) ٣٥

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُوا۟ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٣٦

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه (خوک) كَفَرُوا۟ چې انکار(او کفر) وکړي لَوْ أَنَّ لَهُم (نو)که چيرته د دوی شي مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا هغه ټول شيان چې په ځمکه کې دي وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ او همدومره نوره هم ورسره وي لِيَفْتَدُوا۟ بِهِۦ د دې دپاره چې دغه(ټول مال) په بدل کې ورکړي(چې بچ شي) مِنْ عَذَابِ د عذاب څخه يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ د قيامت دورځې مَا تُقُبِّلَ قبول به نشي مِنْهُمْ ۖ د دوی څخه( چې د الهي

عذاب نه ئې خلاص کړي) وَلَهُمْ او د دوی دپاره عَذَابٌ أَلِيمٌ درد
ناکه عذاب دی(په جهنم کې) ٣٦

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَاۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ٣٧

يُرِيدُونَ دوی به غواړي أَن يَخْرُجُواْ چې ووځي مِنَ ٱلنَّارِ د
(جهنم) د اور څخه وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ خو دوی به نشي وتلای مِنْهَاۖ
د هغې (اور د جهنم څخه) وَلَهُمْ او دوی ته (په جهنم کې) عَذَابٌ
مُّقِيمٌ دايمي عذاب دی. ٣٧

وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ
عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٣٨

وَٱلسَّارِقُ او غل سړی وَٱلسَّارِقَةُ او غله ښځه فَٱقْطَعُوٓاْ غوځ
کړئ أَيْدِيَهُمَا لاسونه د دوی(مطلب دا چې:په اول ځل د سړي څخه
هم يو ښی لاس او د ښځې څخه هم يو ښی لاس غوځيږي،او په دوهم ځل
که بيا غلا وکړي، د سړي څخه هم يوه چپه پښه او د ښځې څخه هم يوه
چپه پښه غوځيږي) جَزَآءًۢ (په) بدل کې بِمَا د هغې (غلا) كَسَبَا
چې دوی کړي ده نَكَٰلًا (دا) عبرتناکه جزا ده مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالی
د طرف څخه(يعنی هر څوک چې د غل غوځ شوئ لاس ګوري نو
عبرت به ترې څخه اخلي او په آينده کې به په تولنه کې هيڅوک هم غلا
ته زړه ښه نه کړي.) وَٱللَّهُ او الله تعالی عَزِيزٌ ډېر زورور حَكِيمٌ
او د حکمت خاوند دی ٣٨

فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ٣٩

فَمَن تَابَ او څوک چې توبه وباسي مِنۢ بَعْدِ وروسته د ظُلْمِهِۦ د
ظلم کولو څخه(يعنی وروسته د غلا کولو څخه) وَأَصْلَحَ او ځان

اصلاح کړي(چې نوره به غلا نکوي) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بیشکه چې الله
تعالی يَتُوبُ به رحم وکړي عَلَيۡهِۗ په ده باندې(او توبه به یې
قبوله کړي) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه چې الله تعالی غَفُورٌ بخښونکۍ رَّحِيمٌ
(او) مهربان دی ٣٩

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤٠

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ آیا ته نه پوهیږي أَنَّ ٱللَّهَ چې بیشکه الله تعالی(هغه ذات دی)
لَهُۥ چې د هغه «جل جلاله» ده مُلۡكُ بادشاهي ٱلسَّمَٰوَٰتِ د
آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمکې يُعَذِّبُ عذاب ورکوي مَن يَشَآءُ
چا ته چې غواړي وَيَغۡفِرُ او بخښنه کوي لِمَن يَشَآءُۗ چا ته چې
غواړي(یعنی د یو غل او مجرم چې د الله تعالی په عدالت کې د بخښنې
مستحق وي،الله تعالی ته یې بخښل کوم سخت کار نه دی) وَٱللَّهُ او الله
تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی(که وغواړې
چې چاته عذاب ورکړي عذاب ورکولای شي،او که وغواړي چې چاته
بخښنه وکړي بخښلای ئې شي) ٤٠

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا
بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ
ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا
فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ
أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَلَهُمۡ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٤١

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ اى پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ
غمجن دې نکړي تا هغه(خلک،يعنى د هغو خلکو په کارونو مه خفه
کيږه) يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ چې منډې وهې په کفر کې(يعنى چې د
کافرانو دپاره کار کوي) مِنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو نه(يعنى اصلاً دوى د
هغو منافقانو څخه دي) قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِأَفْوَٰهِهِمْ چې په خولو وايې چې
مونږ ايمان راوړئ دى وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ۛ او زړونو يې ايمان نه دى
راوړئ(يعنى د دوى زړونو لا تر اوسه دا نه ده منلې چې اسلام حق دين
دى،قيامت،جنت،دوزخ او حساب او کتاب شته،الله تعالى مو ګورې او د
هرې ورې او غټې ګناه پوښتنه را څخه کوي) وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ۛ او د
هغو خلکو ځينې چې يهوديان دي(په هغوى کې هم داسې خلک شته دى
چې د خپلو بې دينه ملايانو) سَمَّـٰعُونَ لِلْكَذِبِ دروغ خبرې اورې(او
يقين وربانديې کوي،مګر ستا خبرې صرف د) سَمَّـٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ
د نورو خلکو دپاره اورې(يعنى دوى جاسوسان دي ستا خبرې په دې نيت
نه اورې چې ايمان دې راوړي،بلکې په دې نيت يې اورې چې ستا هره
خبره خپلو کافرو مشرانو او ملايانو ته ورسوي،کوم چې د کبر نه) لَمْ
يَأْتُوكَ ۖ تا ته نه راځې(او د دوى دا بې دينه ملايان او مشران)
يُحَرِّفُونَ بدلوې (په تورات کې) ٱلْكَلِمَ الفاظ(د الله تعالى) مِنۢ بَعْدِ
مَوَاضِعِهِۦ ۖ وروسته د د دې(الفاظو)په صحيح ځاى کې(د ايښودلو
نه،يعنى د دوى مشران او بې دينه ملايان په تورات کې آيتونه بدلوي او
پټوي،مثلاً د نبي عليه السلام صفتونه د خلکو څخه پټوي او د واده شوي
ښځې او واده شوي سړي دپاره د زنا د رجم قانون يې بدل کړئ او د رجم
د قانون په ځاى يې د خپل ځان څخه د مخ تورولو او په خره سوررولو
قانون جوړ کړئ دى،خو کله چې دوى داسې خلک تا ته د فيصلې دپاره
راليږي نو دوى ورته ) يَقُولُونَ وايې إِنْ أُوتِيتُمْ هَـٰذَا که

چيرته(نبي عليه السلام درته) همداسې حکم درکړي(يعنی په خره سوريدل
او مخ تورول) فَخُذُوهُ نو ويې منئ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ او که داسې حکم
درنکړي(او د رجم حکم درکړي) فَٱحْذَرُوا۟ ۚ نو ځان ترې وساتئ(او
ويې نه منئ) وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتْنَتَهُۥ او الله تعالی چې د چا د ګمراه کولو
اراده وفرمايي فَلَن تَمْلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ نو ته اختيار نه لرې چې
هغه د الله تعالی څخه يې بچ کړې أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ دغه هغه خلک دي
لَمْ يُرِدِ ٱللَّهُ چې الله تعالی نه غواړي أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ چې د دوی
زړونه پاک کړي لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ ۖ د دوی دپاره په دنيا کې
رسوايي(او شرميندګي) ده وَلَهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ او د دوی
دپاره په آخرت کې ډېر لوی عذاب دی. ٤١

سَمَّـٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّـٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ
وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ إِنَّ
ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ٤٢

سَمَّـٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّـٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ دوی د دروغو اوريدونکي او حرام خواره
دي فَإِن جَآءُوكَ نو که چيرته دوی راشي تا ته(د خپلو دعوو د فيصله
کولو دپاره) فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ نو د دوی په منځ کې فيصله وکړه أَوْ
أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ يا ترې څخه مخ واړوه(يعنی ستا اختيار دی که دې
خوښه وي فيصله يې وکړه،او که دې خوښه وي د فيصلې څخه ئې انکار
وکړه) وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ او که چيرته ته انکار وکړې(د هغوی د
دعوې د فيصله کولو څخه) فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ نو دوی تا ته هيڅ
ضرر نشي درسولای وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ او که فيصله
کوې،نو د دوی په منځ کې په عدالت (او انصاف) باندې فيصله کوه إِنَّ
ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ بيشکه الله تعالی انصاف کوونکئ خوښوي. ٤٢

وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰةُ فِيهَا حُكۡمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَـٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٣

وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ او دوى څنګه په تا فيصله کوي(د واده شوي ښځې او واده شوي سړي د زنا د جزا په باره کې) وَعِندَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰةُ حال دا چې د دوی سره تورات موجود دى فِيهَا حُكۡمُ ٱللَّهِ چې په هغه کې د الله تعالی حکم موجود دى(يعنى په تورات کې د رجم قانون موجود دى،نو) ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ بيا دوی بيرته ګرځې وروسته د هغې(فيصلې څخه چې ته ئې ورته د تورات د حکم مطابق وکړې ،ځکه چې د رجم قانون خو دوی ته معلوم دى چې په تورات کې شته دى او د دوی ملايانو بدل کړئ دى او د هغه په ځاى يې د مخ تورولو او په خره سوررولو قانون د ځانه جوړ کړئ دى،او دوی ته يې ملايانو ويلي دي که د مخ تورولو او په خره سوررولو فيصله يې درکړه ويې منئ او که د رجم فيصله يې درکړه ويې نه منئ) وَمَآ أُوْلَـٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ او(حقيقت دا دى)چې دغه خلک مؤمنان نه دي(نه تورات مني او نه قرآن مني) ٤٣

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَـٰتِى ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَـٰفِرُونَ ٤٤

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ بيشکه مونږ تورات نازل کړئ وو فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ چې په هغه کې هدايت او رڼا وه يَحۡكُمُ بِهَا چې فيصلې به کولې په دغه(تورات باندې) ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ پيغمبرانو،هغوی چې د الله تعالی تابع وو لِلَّذِينَ هغو خلکو ته(به يې فيصلې کولې) هَادُواْ چې

يهوديان وو وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ او الله والاوو(يعنی زاهدانو) وَٱلْأَحْبَارُ او علماوو(به هم په تورات باندې د يهوديانو فيصلې کولې) بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ ځکه چې دوی ته د الله تعالی د کتاب د ساتلو مسؤليت ور په غاړه شوئ وو وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ او دوی په دې باندې شاهدان وو(يعنی خبر وو چې دوی ته ويل شوي وو چې په تورات کې به تحريف(او تبديلي)نه کوئ) فَلَا تَخْشَوُا۟ ٱلنَّاسَ (نو الله تعالی فرمايي ) نو د انسانانو څخه مه ويرېږئ(د الله تعالی قانون مه پرېدئ،د نظام د چلولو دپاره د خپل ځانه دانسانانو په خوښه قانون مه جوړوئ،د الله تعالی په کتاب فيصله کوئ او د هيڅ چا نه مه ويرېږئ،او مه د چا پروا کوئ،لکه نن صبا ولې اسلامي خلافت نشته او ولې شرعي قوانين او حدود په اسلامي ملکونو کې نه نافذ کيږي؟ ځکه چې:«١» د الله تعالی دخفګان څخه نه ويرېږي او د انسانانو د خفګان څخه ويرېږي«٢»د دنيا د محبت په سبب، ځکه دوی فکر کوي که د شريعت قانون او حدود نافذ شي نو د خلکو په خواهشاتو او کار او بار کې به خرابوالئ راشي،نعوذبالله دوی ځانونه د الله تعالی او د الله درسول نه هوښيار ګڼې،او د دنيا د نظام د چلولو دپاره د الله تعالی په رالېږل شوي قانون کې ترميم او اصلاح راولي يعنی د خپلو خواهشاتو مطابق قوانين جوړوي. فرمايي) ، وَٱخْشَوْنِ او صرف ځما څخه ويرېږئ(يعنی په ځمکه کې صرف ځما په قانون فيصلې کوئ،او نتيجه يې ما ته پريدئ) وَلَا تَشْتَرُوا۟ او مه اخلئ بِـَٔايَـٰتِى ځما په آياتونو ثَمَنًا قيمت قَلِيلًا ۚ لږ(يعنی ځما حکمونه د لږ رشوت په مقابيل کې مه پرېږدئ او مه يې بدلوئ) وَمَن او څوک چې لَّمْ يَحْكُم فيصله نه کوي بِمَآ په هغه(قانون) باندې أَنزَلَ ٱللَّهُ چې الله تعالی نازل کړئ دی فَأُو۟لَـٰٓئِكَ نو دغه (خلک) هُمُ همدوی ٱلْكَـٰفِرُونَ کافران دي.٤٤

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ
بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ ۚ
وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ٤٥

وَكَتَبْنَا او مونږ فرض کړي وو عَلَيْهِمْ په هغوی باندي(یعنی په یهودیانو باندي) فِيهَآ په هغه کي(یعنی په تورات کي) أَنَّ چي بیشکه ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ نفس به د نفس په بدل کي(یعنی ځان به د ځان په بدل کي وژل کیږي) وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ او سترګه به د سترګي په بدل کي(ړندیږي) وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ او پوزه به د پوزي په بدل کي(غوځیږي) وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ او غوږ به د غوږ په بدل کي (غوځیږي) وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ او غاښ به د غاښ په بدل کي(ماتیږي یا ویستل کیږي) وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ او د زخمونو هم(برابر)بدل دی فَمَن او که څوک تَصَدَّقَ صدقه کوي بِهِۦ په دي قصاص باندي(یعنی که څوک د چا یوه سترګه ړنده کړي،او بیا هغه ړوند شوئ سړی په داسي حال کي چي بدل تري اخستلای شي،خو بدل ورڅخه وا نخلي او د الله تعالی د رضاء دپاره عفوه ورته و کړي) فَهُوَ نو دغه(صدقه یعنی عفوه کول) كَفَّارَةٌ کفاره ده(د ګناهونو) لَّهُۥ ۚ هغه ته(ځکه چي د یوي سترګي دیت پنځوس اوښان دي،نو دا عفوه داسي شوه لکه پنځوس اوښان چي صدقه کړي،نو الله تعالی به ئي همدومره ګناهونه معاف او ورژوي) وَمَن او څوک لَّمْ يَحْكُم چي فیصله نه کوي بِمَآ په هغه قانون باندي أَنزَلَ ٱللَّهُ چي الله تعالی نازل کړئ دی فَأُو۟لَـٰٓئِكَ نو دغه (خلک) هُمُ همدوی ٱلظَّـٰلِمُونَ ظالمان دي.(دلته د ظالمون نه مراد شرک دی بیان القرآن) ٤٥

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَـٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ٤٦

د موسی «عليه السلام» څخه وروسته الله تعالى بني اسرآئيلو ته ډېر پيغمبران راوليږل چې هر پيغمبر د بل پيغمبر او د هغه د كتاب تصديق كولو،بالآخره د پيغمبرانو په دې سلسله كې الله تعالى عيسى «عليه السلام»راوليږلو.فرمايي:

وَقَفَّيْنَا او د دې پيغمبرانو پسې مونږ وليږلو(بني اسرائيلو ته) عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِم د هغوی(يعنی د مخكينيو پيغمبرانو) په نقش قدم باندې بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ عيسى«عليه السلام» ځوی د مريم«عليها السلام» مُصَدِّقًا چې تصديق كوونكئ وو لِّمَا د هغه (شريعي احكامو) دپاره بَيْنَ يَدَيْهِ چې د ده«عليه السلام» څخه مخكې مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ د تورات څخه موجود وو. وَءَاتَيْنَـٰهُ ٱلْإِنجِيلَ او هغه«عليه السلام» ته مونږ انجيل وركړو. فِيهِ هُدًى وَنُورٌ چې په هغه(يعنی انجيل) كې هدايت او رڼا وه وَمُصَدِّقًا او(انجيل هم)تصديق كوونكئ وو لِّمَا د هغه (شريعي احكامو) دپاره بَيْنَ يَدَيْهِ چې د هغه(يعنی انجيل) څخه مخكې مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ د تورات څخه موجود وو وَهُدًى او(انجيل هدايت وو وَمَوْعِظَةً او نصيحت وو لِّلْمُتَّقِينَ د پرهيزګارانو دپاره.
٤٦

وَ لْيَحْكُمْ (او دا زمونږ حكم وو) چې فيصلې دې كوي أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ د انجيل خاوندان(يعنی نصارى يا كريسشن) بِمَآ په هغې (قانون)باندې أَنزَلَ چې نازل كړئ دی ٱللَّهُ الله تعالى فِيهِ ۚ په دې (انجيل) كې، وَمَن او څوک لَّمْ يَحْكُم چې فيصله نه كوي بِمَآ په

هغه(قانون)باندې أَنزَلَ چې نازل کړئ دی ٱللَّهُ الله تعالی فَأُوْلَٰٓئِكَ
نو دغه (خلک) هُمُ همدوی ٱلْفَٰسِقُونَ فاسقان(او نافرمانه) دي. ٤٧

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ
فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ لِكُلٍّ جَعَلْنَا
مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ
ءَاتَىٰكُمْ ۖ فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ
تَخْتَلِفُونَ ٤٨

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ او(ای محمد«صلی الله علیه وسلم» مونږ تا ته کتاب(یعنی قرآن) په حق سره نازل کړئ دی(یعنی دا د الله تعالی رښتینی کتاب دی چې هیڅ شک په کې نشته دی) مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ چې د ده څخه د مخکینیو کتابونو تصدیق کوونکئ دی(یعنی د تورات او انجیل تصدیق کوي) وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ او په هغوی باندې محافظ دی(یعنی په تورات او انجیل کې چې کوم تحریف او تغیر انسانانو کړئ دی،هغه د قرآن پواسطه معلوم او صحیح کیږي چې کوم د انسان کلام دی،او کوم د الله تعالی کلام دی) فَٱحْكُم بَيْنَهُم نو ته فیصله کوه د خلکو په منځ کې بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ په هغه قانون باندې چې الله تعالی رالېږلئ دی(یعنی قرآنکریم باندې) وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ او د خلکو د خواهشاتو مه منه عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ چې د هغه حق(قانون يو حكم پرېږدي) چې تا ته راغلئ دی.(یعنی چې د انسانانو د ویرې او خوشالولو دپاره آسماني قانون د الله په ځمکه کې نه نافظوې او نه ئې د الله تعالی په بندګانو تطبقوې،د انسانانو د خبرو او قدرت د ساتلو پروا مه کوه،د الله څخه وویرېږه،په غل،زناکار،قاتل...باندې د الله تعالی قانون تطبیق کړه،مه ویرېږه چې خلک به څه وایې،ته خو د الله نه بنه نه پوهیږي، او که داسې

ونه کړي نو الله تعالی نه ستا پروا لري او نه د نورو خلکو،نه به ته پاتې شي او نه به نور خلک،ته به خپل جواب ورکوي او خلک به خپل جواب ورکوي،کله چې الله تعالی د حشر په میدان کې درڅخه پوښتنه وکړي چې قدرت او طاقت مې درکړئ وو،ولې دې په خلکو ځما قانون نافذ نکړو نو څه جواب به ورکوې.) لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ مونږ ستاسو د هر یو دپاره یو شریعت او لاره مقرر کړي ده وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ او که الله تعالی اراده فرمایلي وه لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً بیشکه تاسو به ئې یو امت جوړ کړي وئ وَلَٰكِن او لیکن(بیل-بیل ئې کړئ) لِّيَبْلُوَكُمْ د دې دپاره چې تاسو وازمایې فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۖ په هغه (څه)کې چې تاسو ته ئې درکړي دي. فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ نو نیکیو ته یو د بل څخه مخکې کیږئ(چې د الله تعالی په ازمایش او امتحان کې کامیاب شئ) إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا (او)خاص الله تعالی ته ستاسو ټولو ورتلل دي، فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ نو هغه«جل جلاله»به خبر کړي تاسو په هغه څه باندې چې: تاسو په هغې کې اختلاف کولو.(ټول به پوه شئ چې دنیا خو دارالقرار نه وه بلکې صرف دارالامتحان وه،او هرڅه د امتحان دپاره وو،د الله وو او الله ته پاتې شو.) ٤٨

وَأَنِ ٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ٤٩

أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ٥٠

باید ووایو چې د دې آیاتونو حکم د قیامته پورې د ټولو اسلامي حکمرانانو او قاضیانو دپاره دی.

وَ او(مونږ حکم کوو تاته) أَنِ ٱحۡكُم چې فیصله کوه بَيۡنَهُم د هغوی(یعنی د خلکو) په منځ کې بِمَآ په هغه (قانون)باندې أَنزَلَ ٱللَّهُ چې الله تعالی نازل کړې دی(یعنی قرآنکریم) وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ او د هغوی(یعنی د خلکو)د خواهشاتو مه منه(یعنی که د خلکو خواهش او غوښتنه وي چې د رجم حکم ،د غل څخه د لاس غوڅولو حکم،د قصاص حکم و غیره.....مه نافذه وه،او په ځای یې یو څه اسانه قوانین جوړ کړه،نو مه ئې منه،ځکه چې نه ته او نه خلک د الله تعالی څخه ښه پوهیږئ،او چې الله تعالی چا ته یوه جزا تجویز او ټاکلې وي،تاسو څوک یئ چې هغه بدلوئ؟) وَٱحۡذَرۡهُمۡ او د دوی څخه ځان ساته(هسې نه ) أَن يَفۡتِنُوكَ چې دوی واړوي تا عَنۢ بَعۡضِ مَآ د ځینې هغو(احکامو د نافذولو او تطبقولو)څخه أَنزَلَ ٱللَّهُ چې نازل کړي دي الله تعالی إِلَيۡكَۖ تا ته (یعنی هسې نه چې د خلکو تحفې،رشوتونه،اختارونه او د قدرت د ساتلو مینه او محبت وغیره تا دومره مجبور کړي چې:د قرآن د کوم حکم د نافذولو څخه تیر شي او په ځای یې بل انساني قانون جوړ او نافذ کړي چې متاسفانه نن صبا د اکثره اسلامي ملکونو حکمرانانو همداسې کړي دي او همداسې کوې،د قرآن قوانین یې صرف د مسجدونو،د نکاح د تړلو د مرکزونو او د فاتحه خوانئ د مجلسونو پورې محدود کړي دی،او په نورو اموراتو لکه سیاسي،جزايي،اقتصادي، حقوقي او نورو مسائیلو کې یې د قرآن قوانین شا ته غورځولي دي او په ځای یې په خپل لاس قوانین جوړ او نافذ کړي دي .«خو که ته د دوی د خواهشاتو تابع نشې،او د قرآن قانون نافذ کړې او د رجم او قصاص حدود جاري کړې») فَإِن نو که چیرته تَوَلَّوۡاْ دوی مخ واړوې(د قرآن د قانون د نافذولو څخه،او ویې نه مني) فَٱعۡلَمۡ نو پوه شه أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ چې بیشکه الله تعالی اراده لري أَن يُصِيبَهُم چې دوی ته سزا

ورکړي(په دنیا کې) بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ په سبب د ځینو ګناهونو د
دوی(خو متاسفانه کله چې د الله تعالی عذاب راشي یا د دشمن په شکل یا
په خپلو کې جنګیدل او یو بل وژل او داسې نور،نو خلک یې د الله عذاب
نه ګڼې بلکې د دښمنانو ظلم او د نورو مداخله او لاس وهنه یې ګڼې،په
ځای د دې چې په ملک کې اسلامي مکمل قانون نافذ کړي،خپله غلطي
اصلاح کړي، او هغه ګناهونه پرېږدي د کومو په سبب چې پرې عذاب
نازل شوئ دی، توبه وباسي،او الله تعالی راضي او خوشاله کړي،
برعکس نور هم الله تعالی خفه کوي، نورو انسانانو ته د عذاب څخه
شکایتونه کوي ،بدې او ظلمونه یې بیانوي، تر څو چې هغوی ورسره د
دښمن یعنی د عذاب څخه په خلاصولو کې کومک وکړي.خو د اسلامي
قانون نافذولو ته تیار نه وي.) وَإِنَّ كَثِيرًا او بیشکه ډېر زیات مِّنَ
ٱلنَّاسِ د انسانانو څخه لَفَٰسِقُونَ خامخا نافرمانه دي. ٤٩

أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ (بنه: چې دوی د الله تعالی د قانون څخه مخ
اړوي) نو آیا د جاهلیت(او ناپوهی په قانون) فیصلې کول غواړي؟(ځکه
چې څومره قوانین، رواجونه او قومي فیصلې چې د اسلام خلاف وي،دا
ټول د جهالت قوانین،د جهالت رواجونه او د جهالت فیصلې دي،ځکه چې
اسلامي قانون د الله تعالی پواسطه چې د ټولو حقایقو علم لري،د مکمل
عدل او انصاف په اساس جوړ شوئ دی.لیکن د انسان پواسطه جوړ شوو
قوانینو،رواجونو او فیصلو ته ځکه د جاهلیت قوانین وایې چې:انسان په
مدرسو او فاکولتو کې ډېر جزوي او کم علم زده کولای شي،که د ډاکترۍ
علم زده کړي خو په انجینرۍ او نورو علمونو نه پوهیږي،که په تاریخ
پوهیږي خو په فزیک،کیما،بیولوژي...او نورو علمونو نه پوهیږي،که په
اقتصاد پوهیږي په سیاست ، اداره او نورو په سلهاوو علمونو نه
پوهیږي،یعنی پرته د الله تعالی څخه چې په ټولو شیانو عالم او پوه

دی،هيڅ انسان نشي کولای چې په ټولو علمونو احاطه وکړي او په هر شي عالم او پوه شي،مطلب دا شو چې په ټولو حقايقو اوشيانو باندې د پوهيدلو دپاره د انسان علم د يو فيصد څخه هم کم دی،کوم چې د انسان د هدايت او لارښودنې دپاره هم په هيڅ صورت کې کافي نه دی،فکر وکړئ! داسې انسان چې د حقايقو د پيژندلو دپاره يې بې علمي او جهالت يا ناپوهي د علم او پوهې څخه په سلهاوو چنده زياته وي،نو آيا د داسې انسان پواسطه به جوړ شوئ قانون،رواج او فيصلې د بې انصافۍ او بې عدالتۍ څخه ډک نه وي؟ولې نه ډک به وي.نو ځکه قرآن د انسانانو په لاس جوړو شوو قوانينو،رواجونو او فيصلو ته د جهالت قوانين،رواجونه او فيصلې وايي) وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا او د الله تعالی څخه ښه فيصله کوونکئ دی؟(يعنی د چا قانون د الله تعالی د قانون څخه بهتر دی؟) لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ د هغو خلکو دپاره چې(په الله تعالی)يقين لري.( د هيڅ چا قانون په دنيا کې د الله تعالی د قانون يعنی قرآنکريم څخه بهتر نشته دی.)

۵۰

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۵۱

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو (کسانو) ءَامَنُوا۟ چې ايمان يې راوړئ دی(ای مؤمنانو) لَا تَتَّخِذُوا۟ تاسو مه نيسئ ٱلْيَهُودَ يهود وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ او نصاری أَوْلِيَآءَ ۘ دوستان(اولياء-داسې قلبي دوستي ده چې يو د بل رازونه ساتي،يو د بل ملاتړ او د زړه د کومي يو د بل سره محبت لري،د داسې کولو اجازه د کافرانو او د الله تعالی د دښمنانو سره نشته،البته د کافرانو سره ښه رويه،ظاهراً ښه دارمدار،ښه اخلاق او په ښو اخلاقو سره خبرې او راشه درشه کول دا بيله خبره.)

بَعۡضُهُمۡ ځيني د دوی أَوۡلِيَآءُ دوستان دي بَعۡضٍۚ د ځينو(يعنی د يهود او نصاراوو ځخه بعضي د بعضو سره دوستي او يو د بل ملاتړ کوي،په حقيقت کي دا يوه پيشګويي ده چې اوس پوره شوه،اګر چې د دې سورة په ۱۴ نمبر آيت کي الله تعالی فرمايي: فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ «نو د قيامت د ورځې پورې مونږ د دوی(يعنی يهود او نصاراوو) په منځ کې دښمني او کينه واچوله يعنی تر ځو چې ايمان رانوړې نو د قيامت پوري به په خپلو کې د دښمنی په عذاب اخته وي»سره د دې چې د دوی په منځ کې هميشه دښمني او نفرتونه موجود دي ليکن د قرآنکريم په دې الفاظو« بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ »کې چې کومه پيشګويي ده، په شلمه پيړۍ کې پوره شوه،يعنی په شلمه پيړی کې د ځيني عيسايي ملکونو په ملاتړ د اسرآئيلو(يعنی يهوديانو) حکومت جوړ شو،او اوس هم د ځينو عيسايي حکومتونو د ملاتړ او کومک پواسطه قائم دی.)

وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ او ځوک چې ستاسو ځخه د هغوی سره دوستي کوي فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ نو بيشکه(دا کس) د هغوی(يعنی يهود او نصاراوو)ځخه دی(يعنی هر ځوک چې د هغوی سره د دوستی تړون او معاهدې کوي،او کومک او حمايت ترې غواړې،دا کس د الله تعالی په نظر کې د يهود يا نصراني په شمار کې راځي) إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ بيشکه الله تعالی(داسې) ظالمانو خلکو ته هدايت نه کوي،(نن صبا د اکثره اسلامي ملکونو سياست ځنګه دی؟او په دې باره کې د قرآن فتوی ځنګه ده؟ستاسو په مخکې دي.) ۵۱

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٍ مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِيٓ

أَنفُسِهِمْ نَـٰدِمِينَ ٥٢ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَـٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فَأَصْبَحُواْ خَـٰسِرِينَ ٥٣

فَتَرَى (كله چي د مسلمانانو او كافرانو شخړه وي) نو ته به ګورې چې: ٱلَّذِينَ هغه(مسلمانان) چې د هغو په زړونو كې فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ (د منافقت) مرض دى(يعنى منافقان دي) يُسَـٰرِعُونَ فِيهِمْ منډې رامنډې به وهې په هغوى كې(يعنى دوى فكر كوي چې نور مسلمانان به هم زمونږ په شان بي غيرته او بي ايمانه وي،نو كه مسلمان مغلوب او كفار كامياب شي،نو مونږ بايد مخكې د مخكې څخه د كفارو په زړونو كې ځانته ځاى او اعتبار پيدا كړو،تر څو چې:كه چيرته مسلمانان مغلوب شي او قدرت د كفارو لاس ته ورشي،چې مونږ بايد د كفارو سره عزت او حيثيت ولرو،نو په دې خاطر چې هر څنګه كولئ شي كه په پټه وي او كه په ښكاره د هغوى په منځ كې د خپل اعتبار د پيداكولو كوششونه كوي،د دوستى لاسونه وركوي،په هغوى كې ځانته وظيفې پيدا كوي،تنخواه ګانې ترې اخلي،د خپلو مسلمانانو ورونو جاسوسي ورته كوي وغيره.....) يَقُولُونَ (او خپل وجدان ته بيا داسې دوكه او تسكين وركوي چې) وايې نَخْشَىٰٓ مونږ ويريږو أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ چې مونږ ته به كوم مصيبت راورسيږي(يعنى مونږ خو د يهود او نصاراوو سره د دى دپاره دوستي كوو،چې د مسلمانو په شكست سره مونږ ته كوم مصيبت جوړ نشي،او كه څه مشكل راته پيدا هم شي نو دوى به يې راڅخه لرې كړي) فَعَسَى خو زر ده ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ چې الله تعالى راولې (مسلمانانو ته) بِٱلْفَتْحِ كاميابي أَوْ أَمْرٍ يا يوه فيصله(يعنى داسې يو شى چې د هغې څخه په ډاګه معلوميږي چې كاميابي او ګټه د مسلمانانو ده) مِّنْ عِندِهِۦ د هغه«جل جلاله» د طرف څخه فَيُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ نَـٰدِمِينَ نو دوى به په هغو(خبرو)باندې چې په زړونو كې يې پټې ساتلي

دي،پښیمانه شي(یعنی چې کله مسلمانان به مغلوب او کافران به غالب
شي او زمونږ به هم پکې عزت او حیثیت وي) ٥٢ وَيَقُولُ او وايي به
ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُوٓاْ چې ایمان یې راوړی دی(یعنی کله چې
سوچه او مؤمن او مجاهد مسلمانان خبر شي چې:فلانکئ د یهودو او
نصاراوو یعنی کفارو دوست او جاسوس وو،فلانکئ هم،......او فلانکئ
هم د کفارو دوست او جاسوس وو،نو دوی به په ډېر تعجب سره ووايي!
أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ آیا دا هماغه خلک
دي چې په الله تعالی باندې به یې کلک-کلک قسمونه خوړل چې مونږ
ستاسو سره یو(دوی خو لمونځونه کول،دوی خو روژې نیولي،حجونه او
عمرې یې کولي، دا ولي؟) حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ د دوی اعمال
برباد(ضایع)شو(یعنی ټول لمونځونه،روژې حجونه او نور نیک اعمال
یې چې کړي وو هغه ټول د کافرانو سره په دوستۍ او هغوی ته د خپلو
خلکو د جاسوسۍ کولو په سبب تباه شو، فَأَصْبَحُواْ خَٰسِرِينَ (نو چې
اعمال ورسره نه وي نو د قیامت په ورځ) دوی تاوانیان شول(ځکه د دې
نه نور لوی تاوان کوم دی چې د جنت غوندې نعمت څخه سړی محروم
شي او د دوزخ په شان زندان ته لاړ شي) ٥٣

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ
وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا
يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو (کسانو) چې ایمان ئې راوړی دی(ای
مؤمنانو) مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ څوک چې ستاسو ځیني د خپل دین
څخه اوړي فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ نو الله تعالی به زر داسي خلک
راولي يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ چې الله تعالی به د هغوی سره محبت کوي،او

هغوی به د الله تعالی سره محبت کوي أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ په مؤمنانو
باندې به ډېر نرمي کوونکې وي(یعنی په مؤمنانو به شفقت او رحم کوي)
أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ په کافرانو به ډېر سختي کوونکې وي يُجَٰهِدُونَ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې به جهاد کوي وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ
لَآئِمٍ ۚ او د هیڅ ملامتوونکي د ملامتیا څخه به نه ویریږي(یعنی د الله
تعالی د احکامو په منلو او تطبیقولو کې به د هیڅ چا د خبرو پروا نه
کوي) ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ دا د الله تعالی فضل دی يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ چا
ته چې غواړي هغه ته یې ورکوي. وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ او الله تعالی ډېر د
فراخۍ والا (او) ډېر پوه دی.٥٤

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَهُمْ رَٰكِعُونَ ٥٥

وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ٥٦

إِنَّمَا بیشکه(ای مؤمنانو) وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ ستاسو دوست الله تعالی دی
وَرَسُولُهُۥ او د الله تعالی پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» دی وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ او هغه (خلک ستاسو دوستان دي) چې ایمان یې راوړی وي
ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ چې هغوی لمونځونه کوي وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
او زکات ورکوي وَهُمْ رَٰكِعُونَ او رکوع کوونکي دي(یعنی الله تعالی
ته سر ټیټوونکي وي) ٥٥ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ او څوک چې د الله
تعالی او د هغه«جل جلاله» د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» سره دوستي
کوي وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ او د هغو خلکو سره(دوستي کوي) چې ایمان یې
راوړی دی(نو دوی د الله تعالی په ډله کې دي) فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ او
بیشکه د الله تعالی ډله(چې ده) هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ همدوی کامیاب دي(دا د الله
تعالی وعده ده چې مؤمنان کامیاب او یهود،نصاری او کافران ناکام او

مغلوب دي،د العمران په سورة کې فرمايي وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ-١٣٩ترجمه-هم تاسو کامياب يئ(مګر په دې شرط) که چيرته تاسو مؤمنان ياستئ.بيشکه چې د الله تعالی وعدې حق او رښتيا دي،ليکن د کاميابۍ دپاره ئې د مؤمنتوب شرط ايښئ دی،نو هرکله چې مسلمانان د کفارو په مقابيل کې مغلوب او شکست وخوري،بايد خپلو ځانونو او اعمالو ته متوجه شي،خپل ځانونه او اعمال چک کړي، چې آيا مونږ. خو به څه داسې ګناه او کارونه نه کوو چې د هغې په سبب د الله تعالی په نظر کې د مؤمنانو د لست څخه وتلي يو،آيا مونږ د الله تعالی قانون نافذ کړئ دی؟آيا مونږ د قرآن مطابق اسلامې نظام جوړ کړئ دی؟آيا مونږ د الله تعالی حدود جارې کړي دي؟آيا په خبرو کې دروغ نه وايو؟آيا وعده خلافې او په امانت کې خيانت نه کوو؟آيا غلاکانې،ظلمونه او بې ګناه قتلونه نه کوو؟آيا ګاونډيانو،يتيمانو،خورګانو،لورګانو،مورګانو او غريبانو ته د هغوی حقونه ورکوو؟آيا فيصلې د الله تعالی په رالېږل شوي قانون کوو،او که د جاهليت په قانون يعنی د انسان په لاس جوړ شوي قانون باندې،آيا مونږ واقعاً حرام شيان حرام ګڼلي دي؟آيا مونږ په ټولنه کې غيرې اسلامې رواجونه حلال کړي نه دي؟آيا شرک،بدعتونه او سودې کاروبار نه کوو ....او نور،نو که چيرته زمونږ اعمال او کړه وړه د هغو اعمالو خلاف وي کوم چې د مؤمنانو دپاره لازم وي يعنی مسلمانان يو خو په ملک کې اسلامې نظام نه وي،د قرآن قانون او حدود نافذ نه وي ،فيصلې د جهالت په قوانينو يعنی د انسان په لاس جوړ شوو قوانينو باندې کيږي،په ټولنه کې د فحشاوو مرکزونه او غيرې اسلامې رواجونه موجود وي،غلاکانې،قتلونه،ظلمونه او د خلکو حقونه خوړل عام وي، نو بيا خو تش د مسلمان په نوم او کليمه ويلو څوک مؤمن کيدلای نشي،په حقيقت کې داسې اسلامې ملکونه چې نن صبا په دنيا کې اکثره همداسې دي،دوی

خو د الله نصرت او رحمت ته نه،بلکې د الله تعالی عذاب ته پخپله دعوت
ورکوي،خو کله چې د الله تعالی عذاب وربانديې د دښمن په شکل کې
راشي،نو باید چې په عوض د دې چې نورو انسانانو ته د مدد او کومک
چغې ووهې،باید د الله عذاب د الله عذاب وګڼې،پرته د الله تعالی څخه
هیڅوک هم د هغه(جل جلاله)عذاب نه شي دفع کولای،نو باید چې توبه
وباسو، خپل ځانونه اصلاح کړو ، اسلامې نظام قائم او نافذ کړو او
قرآنکریم او د سنتو مطابق خپل ځانونه برابر او ژوند وکړو،انشاءالله چې
د الله تعالی عذاب به دفع شي او فتح او کامیابي به د مؤمن مسلمانانو په
برخه وي. ۵۶

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ ٱلَّذِينَ
أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۵۷

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ای هغو خلکو چې ایمان یې راوړئ دی(یعنی ای
مؤمنانو) لَا تَتَّخِذُوا۟ تاسو مه نیسئ(یعنی دوستي مه کوئ) ٱلَّذِينَ د
هغو(خلکو) ٱتَّخَذُوا۟ چې هغوی کوي دِينَكُمْ ستاسو د دین پوري
هُزُوًا وَلَعِبًا ټوقې او مسخري مِّنَ ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) څخه أُوتُوا۟
چې هغوی ته ورکول شوئ دی ٱلْكِتَـٰبَ کتاب مِن قَبْلِكُمْ مخکې د
ستاسو څخه(یعنی یهود او نصاری) وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ او د نورو کفارو
(څخه هم د هغو خلکو سره چې ستاسو د دین پوري ټوقې او مسخري
کوي)دوستي مه کوئ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ او د الله تعالی نه وویریږئ إِن كُنتُم
که چیرته یئ تاسو مُّؤْمِنِينَ مؤمنان. ۵۷

وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ۵۸

وَإِذَا او کله چې نَادَيْتُمْ تاسو اذان کوئ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ لمانځه ته
ٱتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ دوی(یعنی کتابیان او مشرکان) د هغه(یعنی اذان

پورې) تېوقې او مسخرې کوي ذَٰلِكَ دا(تېوقې او مسخرې د اذان
پورې) بِأَنَّهُمْ په دې سبب کوي چې دوى قَوْمٌ داسې خلک دي
لَّا يَعْقِلُونَ چې عقل نلري ٥٨

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ
مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ٥٩

قُلْ (ورته) ووایه يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ اى د کتاب خاوندانو(يعنى اى يهود
او نصاراوو) هَلْ تَنقِمُونَ د څه شي انتقام اخلئ مِنَّآ زمونږ نه؟
إِلَّآ پرته (د دې څخه) أَنْ چې ءَامَنَّا مونږ ايمان راوړئ دى
بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَمَآ او په هغه(قرآن باندې) أُنزِلَ چې نازل
شوئ دى إِلَيْنَا مونږ ته وَمَآ او په هغو(کتابونو او صحيفو باندې)
أُنزِلَ چې نازل شوې دي مِن قَبْلُ د مخه(زمونږ،نو په دې کې د بدې
څه خبره ده چې تاسو مونږ ته بد او دين ته مو د شر دين وايئ،سره د دې
چې مونږ خو ستاسو غوندې نه يو چې څه پيغمبران او آسماني کتابونه
منئ او څه نه منئ) وَ او(حقيقت دا دى) أَنَّ چې بيشکه أَكْثَرَكُمْ
اکثره ستاسو فَٰسِقُونَ نافرمانه دي ٥٩

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ
وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن
سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٦٠

قُلْ (اهل کتابو ته)ووايه هَلْ آيا أُنَبِّئُكُم زه خبر کړم تاسو ؟ بِشَرٍّ
په ډېرو بدترو(خلکو) مِّن ذَٰلِكَ د دې نه(يعنى د داسې خلکو په باره کې
خبر درکړم چې د فاسقانو څخه هم زيات بدتر او خراب وي) مَثُوبَةً
په اعتبار د جزا(او بد انجام سره) عِندَ ٱللَّهِ ۚ د الله تعالى په وړاندې(دا)
مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ هغه(خلک دي) چې الله تعالى پرې لعنت کړئ دى

وَغَضِبَ عَلَيْهِ او غضب ئې وربانديې کړئ دی وَجَعَلَ او جوړ کړي
ئې دي مِنْهُمُ د هغوی څخه ٱلْقِرَدَةَ شادوګان وَٱلْخَنَازِيرَ او
خنزيران وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ځکه چې دوی د طاغوت(غيرالله) عبادت
کړئ وو(يعنی د خوسي عبادت يې کړئ وو) أُوْلَٰٓئِكَ دغه( خلک)
شَرٌّ ډېر بدتر(او خراب )دي مَّكَانًا په اعتبار د ځای(يعنی د دوی
اخرنئ ځای جهنم دی چې د اوسيدلو دپاره ډېر خراب ځای دی))
وَأَضَلُّ او دوی بي لارې دي عَن سَوَآءِ د سمې ٱلسَّبِيلِ لارې
څخه. ٦٠

وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُواْ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُواْ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُواْ يَكْتُمُونَ ٦١

وَإِذَا او کله چې جَآءُوكُمْ دوی تاسو ته راځي قَالُوٓاْ وايي چې
ءَامَنَّا مونږ ايمان راوړئ دی وَ حال دا چې قَد بيشکه دَّخَلُواْ
داخليږي دوی(يعنی راځي تاسو ته) بِٱلْكُفْرِ د کفر سره(يعنی په حقيقت
کې دوی منافقان دي،په خوله يې يوه ده او په زړه کې بله ده،دوی نه په
رښتيا مسلمانان دي او نه د ايمان راوړلو دپاره تاسو ته راځي،بلکې دوی
جاسوسان دي،ستاسو د حال د معلومولو دپاره ستاسو سره خوږې-خوږې
خبرې کوي) وَهُمْ قَدْ او بيشکه دوی خَرَجُواْ بيرته ځي(ستاسو
څخه) بِهِۦۚ د هغه(کفر سره د کوم سره چې راځي،يعنی ستاسو دعوت
اوريدلو ته نه راځي او نه يې قبلوي) وَٱللَّهُ او الله تعالی أَعْلَمُ
پوهيږي بِمَا په هغه(منافقت د دوی) كَانُواْ يَكْتُمُونَ چې دوی يې(په
زړونو کې د ستاسو نه)پټوي.٦١

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَۚ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ٦٢

وَتَرَىٰ او ته به وینې كَثِيرًا ډېر(خلک) مِّنْهُمْ د دوی(یعنی د
کتابیانو او مشرکانو) يُسَٰرِعُونَ چې منډې رامنډې وهې فِى ٱلْإِثْمِ
په گناه کې وَٱلْعُدْوَٰنِ او په ظلم کې وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ او د حرامو په
خوړلو کې لَبِئْسَ یقیناً ډېر بد دي مَا هغه (څه) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ
چې دوی یې کوي(یعنی گناه،ظلم او حرام خوړې بد کارونه دي). ٦٢

لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا
كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ٦٣

لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ولې دوی نه منع کوي ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ عیسایي علما
وَٱلْأَحْبَارُ او یهودي علما (یعنی مسیحي او یهودي علما ولې یهود او
نصارې نه منع کوي) عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ د گناه د خبرو نه وَأَكْلِهِمُ
ٱلسُّحْتَ ۚ او د حرام مال د خوړلو نه؟ لَبِئْسَ ډېر بد دی مَا
هغه(عمل) كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ چې دوی یې کوي(یعنی د علماوو دا خاموشي
او چپتیا ډېر بد عمل او بد کار دی چې:نهي عن المنکر یا د بدو کارونو
څخه څوک نه منع کوي،نو باید چې علما،بزرگان،شیخان او پیران په
خپلو لمونځونو،تلاوتونو،روژو او حجونو مغرور نشي تر څو چې نهي
عن المنکر ونکړي یعنی خلک د بدو کارونو څخه منع نکړي،قرآنکریم
داسې علماوو او بزرگانو ته بد عمله وایې. ) ٦٣

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌ ۚ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا۟ بِمَا قَالُوا۟ ۘ بَلْ يَدَاهُ
مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ
طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۚ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟
نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۚ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ
٦٤

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ او یهودیان وایي يَدُ ٱللَّهِ چې د الله تعالی لاس
مَغْلُولَةٌ ۚ بند دی(یعنی نعوذبالله الله تعالی بخیل دی.داسې نه ده بلکې)
غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ لاسونه د دوی بند دي(یعنی یهودیان بخیلان دي) وَلُعِنُوا۟
او لعنت شوئ دی په دوی بِمَا په سبب د هغه(خبرو چې) قَالُوا۟ ۘ
دوی یې وایې(چې نعوذبالله الله تعالی بخیل دی) بَلْ يَدَاهُ بلکې د الله
تعالی دواړه لاسونه مَبْسُوطَتَانِ پراخه دي يُنفِقُ مصر فوي(یعنی
روزې ورکوي مخلوقاتو ته) كَيْفَ يَشَآءُ ۚ څنګه چې د هغه«جل
جلاله» خوښه وي. وَلَيَزِيدَنَّ او یقیناً زیاتوي كَثِيرًا ډېرو ته
مِّنْهُم د دوی(یعنی ډېرو یهودیانو ته) مَّآ هغه(کتاب) أُنزِلَ چې
نازل شوئ دی إِلَيْكَ تا ته مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرف نه
طُغْيَٰنًا سرکشي وَكُفْرًا ۚ او کفر(یعنی دوی خو د مخکې نه سرکشه او
کافران دي،خو کله چې قرآن اوریې، غصه او ضد یې نور هم
زیاتیږي،او د قرآن د نه منلو په سبب یې په سرکشي او کفر کې د پخوا
څخه هم زیاتولئ او شدت راځي) وَ او (د دوی د دې سرکشئ او کفر
په سبب) أَلْقَيْنَا مونږ واچوله بَيْنَهُمُ د دوی په منځ کې ٱلْعَدَٰوَةَ
دښمني وَٱلْبَغْضَآءَ او کینه إِلَىٰ يَوْمِ د ورځې ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ د قیامت
پورې(یعنی تر څو چې ایمان رانوړې د قیامت پورې به د دښمنئ او کینې
په عذاب کې سوزې.) كُلَّمَآ هر کله چې أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ دوی د
جنګ اور بلوي(یعنی یهودان د جنګ اور ته لمن وهي) أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۚ
الله تعالی ئې مړ کوي وَيَسْعَوْنَ او دوی کوشش کوي(یعنی یهود
کوشش کوی) فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې فَسَادًا ۚ د فساد (کولو)
وَٱللَّهُ او الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلْمُفْسِدِينَ فساد کوونکې.
٦٤

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَـٰهُمْ جَنَّـٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٦٥

وَلَوْ أَنَّ او که چیرته أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ اهل کتابو(یعنی یهود او نصاراوو) ءَامَنُوا۟ ایمان راوړئ وو وَٱتَّقَوْا۟ او د الله تعالی نه ویریدلي وو لَكَفَّرْنَا خامخا به مونږ لري کړي وو عَنْهُمْ د هغوی نه سَيِّـَٔاتِهِمْ ګناهونه د هغوی وَلَأَدْخَلْنَـٰهُمْ او خامخا به داخل کړي وو مونږ هغوی جَنَّـٰتِ په جنتونو ٱلنَّعِيمِ د نعمتونو کې ٦٥

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ٦٦ ۞

وَلَوْ أَنَّهُمْ او که چیرته هغوی(یعنی یهود او نصاراوو) أَقَامُوا۟ نافذ کړي وو ٱلتَّوْرَىٰةَ د تورات وَٱلْإِنجِيلَ او انجیل(احکام) وَمَآ او هغه( صفتونه او پیشګویي د محمد«صلی الله علیه وسلم» أُنزِلَ چې نازل شوي وو إِلَيْهِم هغوی ته(په تورات او انجیل کې) مِّن رَّبِّهِمْ د طرف نه د رب خپل(چې هغه یې منلي وو،او په قرآنکریم او محمد«صلی الله علیه وسلم» باندې یې ایمان راوړئ وو،نو) لَأَكَلُوا۟ بیشکه روزي(اورزق به پرې راوریدل،یعنی د برکت بارانونه به پرې راوریدل) مِن فَوْقِهِمْ د پاس څخه(یعنی د آسمان نه) وَمِن تَحْتِ او لاندې د أَرْجُلِهِم ۚ دوی د پښو (څخه به روزي او رزق راخوټیدلو،یعني د برکتي بارانونو پواسطه به ځمکي برکتي فصلونه او حاصلات ورکول) مِّنْهُمْ د وی(یعنی یهود او نصاراوو څخه) أُمَّةٌ یوه ډله مُّقْتَصِدَةٌ ۖ منځ لارې ده(یعنی په سمه لاره تلوونکې دي) وَكَثِيرٌ خو اکثره

مِّنْهُمْ د دوی(داسې دي) سَآءَ (چې) ډېر بد دي مَا هغه(اعمال)
يَعْمَلُونَ چې دوی يې کوي(يعنی بد عمله دي)٦٦ ۞

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ
وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ٦٧

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ ای پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) بَلِّغْ ورسوه(خلکو ته)
مَآ هغه (پيغام) أُنزِلَ چې نازل شوي دي إِلَيْكَ تا ته مِن رَّبِّكَ ۖ
ستا د رب د طرف نه وَإِن او که چيرته لَّمْ تَفْعَلْ تا داسې ونه
کړل(يعنی که د الله تعالی پيغام دې خلکو ته پوره ونه رسولو،يعنی که
کوم حکم دې د خلکو د ويرې څخه پټ کړو، دا په دې معنی دی لکه
مکمل قرآن دې چې خلکو ته ونه رسولو،) فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ نو تا د
الله تعالی هيڅ پيغام نه دی رسولئ(دا په دې خبره دليل دی چې نبي عليه
السلام ټوله وحې يعنی ټول قرآن او سنت امت ته رسولئ دی،او اوس د
امت د ټولو علماوو دپاره دا حکم دی چې مکمل قرآن او سنت خلکو ته
ورسوي،او د انسانانو د ويرې نه د الله تعالی کوم حکم پټ نکړي) وَٱللَّهُ
او الله تعالی يَعْصِمُكَ به ساتي تا مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ د خلکو څخه(يعنی
ای محمد «صلی الله عليه وسلم»د هيڅ چا نه مه وريږه ،چې د چا د ويرې
څخه د الله تعالی کوم حکم پټ کړې،ستا ساتونکئ الله تعالی دی ،عائشه
«رضی الله عنها»فرمايي چې د دې مبارک آيت د نزول څخه مخکې به
صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبي عليه السلام حفاظت کولو،خو کله
چې دا آيت نازل شو نو نبي عليه والسلام د خيمې څخه سر رابهر کړو او
وئې فرمايل چې:ای خلکو بيرته لاړ شئ،اوس به زما حفاظت الله تعالی
کوي) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی لَا يَهْدِى هدايت نه کوي ٱلْقَوْمَ
قوم ٱلْكَـٰفِرِينَ د کافرانو ته ٦٧

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ٦٨

قُلْ ووايه يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ اى د كتاب خاوندانو(يعنى اى يهود او نصاراوو) لَسْتُمْ تاسو نه يئ عَلَىٰ شَىْءٍ په هيڅ شي باندې(د دين) حَتَّىٰ تر هغې پورې تُقِيمُوا۟ چې عمل وکړئ ٱلتَّوْرَىٰةَ په تورات وَٱلْإِنجِيلَ او انجيل وَمَآ او په هغه(څه) أُنزِلَ چې نازل شوي دي إِلَيْكُم تاسو ته مِّن رَّبِّكُمْ ۗ ستاسو د رب د طرف نه(يعني اى يهود او نصاراوو د هغې پورې تاسو په يو دين هم نه يئ د څو پورې چې په تورات او انجيل ايمان رانورئ او د هغوى په احكامو باندې عمل ونکړئ،او دا خو معلومه خبره ده كه په رښتيا سره په تورات او انجيل عمل وکړئ،نو په هغې کې خو تاسو ته ښکاره حكم شوئ دى چې په نبي آخرالزمان او قرآنكريم باندې ايمان راوړئ،نو بيا خو پرته د كوم چون او چرا څخه پخپله ايمان راوړئ) وَلَيَزِيدَنَّ او(اى محمد«صلى الله عليه وسلم») يقيناً زياتوي كَثِيرًا ډېرو مِّنْهُم د هغوى ته (يعنى يهود او نصاراوو ته) مَّآ هغه (قرآن) أُنزِلَ چې نازل شوئ دى إِلَيْكَ تا ته مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرف نه طُغْيَٰنًا سركشي وَكُفْرًا ۖ او كفر (يعنى دوى خو د مخكې نه سركشه او كافران دي،خو كله چې قرآن اوري، غصه او ضد يې نور هم زياتيږي،او د قرآن د نه منلو په سبب يې په سركشي او كفر کې د پخوا څخه هم زياتولئ او شدت راځي) فَلَا تَأْسَ نو ته مه خفه كيږه عَلَى ٱلْقَوْمِ په قوم ٱلْكَٰفِرِينَ د كافرانو باندې.(يعنې په تا باندې د الله تعالى پيغام رسول دي،نور په دې مه خفه كيږه چې دوى ولې ايمان نه راوړي) ٦٨

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّـٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٦٩

د موسی علیه السلام امت ته یهود یا جهود وایي او د عیسی علیه السلام امت ته نصارا یا ترسا وایي،صابئین داسې یوه فرقه ده چې دوی په خیل ګمان بنه بنه شیان د هر دین څخه ځانته غوره کړي دي، دوی ابراهیم علیه السلام مني ،د ملائیکو عبادت کوي،زبور لولي،او د کعبې شریفې په لورې لمونځ کوي

إِنَّ ٱلَّذِينَ بیشکه هغه (خلک) ءَامَنُواْ چې ایما یې راوړئ دی(یعنې هغه خلک چې مؤمنان دي) وَٱلَّذِينَ او هغه(خلک) هَادُواْ چې یهودیان دي وَٱلصَّـٰبِـُٔونَ او(هغه خلک چې) بې دینه دي وَٱلنَّصَـٰرَىٰ او(هغه خلک چې) نصاری دي مَنْ (نوهر)څوک ءَامَنَ چې ایمان راوړي(د دوی څخه) بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَٱلْيَوْمِ او په ورځ ٱلْـَٔاخِرِ د آخرت باندې(یعنې په قیامت،حساب کتاب او جنت او دوزخ باندې) وَعَمِلَ صَـٰلِحًا او نیک عمل وکړي(یعنې د ایمان راوړلو سره نیک عمل هم شرط دی،داسې نه ده چې یو سړی ایمان راوړي خو لمونځ نه کوي،زکات نه ورکوي،روژې نه نیسي ،نشې،تماشې او ناروا او حرام کارونه داسې کوي لکه حلال،نو دا سې ایمان راوړل سړی جنت ته نه بوځي.نو هغه څوک چې دایمان سره نیک اعمال هم کوي) فَلَا نو نه به وي خَوْفٌ هیڅ ویره عَلَيْهِمْ په دوی باندې وَلَا هُمْ او نه به دوی يَحْزَنُونَ غمجن کیږي.(یعنې د قیامت د ورځې د ویرې نه به یې هم الله تعالی بچ کړي،اوعمل نامه به هم په ښې لاس کې ورکړي یعنې کامیاب به شي او جنت ته به لاړ شي) ٦٩

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُواْ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ٧٠

لَقَدْ بیشکه أَخَذْنَا اخستي وه مونږ مِيثَٰقَ کلکه وعده بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ د بني اسرآئيلو څخه (چې يوازې د الله تعالى عبادت به کوئ) وَأَرْسَلْنَآ او ليږلي وو مونږ إِلَيْهِمْ هغوی ته رُسُلًاۖ پيغمبران كُلَّمَا (نو) هر کله به چې: جَآءَهُمْ راغئ هغوی ته رَسُولُۢ يو پيغمبر بِمَا د داسې(احکامو)سره لَا تَهْوَىٰٓ چې نه به خوښول(هغه احکام) أَنفُسُهُمْ زړونو د هغوی فَرِيقًا (نو د پيغمبرانو) يوه ډله به يې كَذَّبُواْ دروغجنه کړه(ورته به يې ويلې چې تاسو دروغ وايئ) وَفَرِيقًا او يوه ډله(د پيغمبرانو) يَقْتُلُونَ به يې ووژله (يعني کله به چې د الله تعالى پيغمبران ورته راغلل او داسې احکام به يې ورته بيانول چې د دوی په طبيعت به برابر نه و،نو بعضې پيغمبرانو ته به يې ويلې چې تاسو دروغجن يئ او بعضې به يې مړه کول) ٧٠

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٌ مِّنْهُمْۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ٧١

د پوهيدلو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

څه وخت چې بني اسرآئيلو ته د کافرانو سره د جنګ يعنی جهاد حکم وشو،چې د کافرانو څخه مقدسه ځمکه په جنګ ونيسئ او تاسو ورننوځئ نو دوی صفا انکار وکړو او موسی عليه السلام ته يې وويلې چې ته او ستا رب لاړ شئ،د کافرانو سره وجنګيږئ،او مونږ به درته دلته ناست يو،کله چې تاسو کافران وويستل او ځمکه مو ونيوله نو مونږ به بيا درشو،نو الله تعالى ۴۰ کلونه د تيه په ميدان کې سرګردان او حيران بند کړل،خو بيا وربانديې الله تعالى رحم وکړو،د يوشع عليه السلام په وخت

کې يې مقدسه ځمکه فتحه او ورننوتل او الله تعالى د ازاد سلطنت خاوندان کړل،ليکن د وخت په تيريدلو سره يې د بتانو عبادت شروع کړو،ځيني پيغمبرانو ته يې د دروغجنو نسبت وکړو او ځيني پيغمبران يې ووژل،او دا دومره غټ جرم دوى ته بالکل ګناه نه ښکاريده،او فکر يې کولو چې په دې کار به مو الله تعالى نه رانيسي،نو په دې سبب د حق قبلولو ته ړانده او کانه شو په ځاى د دې چې د الله تعالى د پيغمبرانو خبره ومني،برعکس څوک يې دروغجن کړل او څوک يې په شهادت ورسول،نو الله تعالى د بابل بادشاه بخت نصر وربانديې مسلط کړو،د بيت المقدس ښار يې وران کړو،او دوى ئې غلامان کړل،د دې څخه وروسته تقريباً ٧٠ کلونه وروسته الله تعالى بيا وربانديې رحم وکړو،او دوى ئې د دوهم ځل دپاره بيا د بيت المقدس ښار ته ورسول،او د دوى د هدايت دپاره ئې انبيا عليهم السلام راوليږل،چې دوى د هغوى د دعوت څخه متاثره شول او بيرته يې د الله تعالى عبادت شروع کړو،مګر د وخت په تيريدو سره يې بيا ديني حالت خراب شو،تر دې پورې چې الله تعالى ورته عيسى عليه السلام راوليږلو،نو دوى بيا د حق د قبلولو څخه ړانده او کانه شو،او د عيسى عليه السلام د وژلو سازش يې جوړ کړو،الله تعالى خپل نبي عيسى عليه السلام آسمان ته پورته کړو،او دوى ئې د روميانو په لاس تباه او برباد کړل.

وَحَسِبُوٓاْ او دوى ګمان کولو(چې د پيغمبرانو په وژلو او دروغجن ګڼلو بانديې به) أَلَّا تَكُونَ نه وي (دوى ته) فِتْنَةٌ څه عذاب فَعَمُواْ نو ړانده وَصَمُّواْ او کانه شو(يعنى د الله تعالى ځيني پيغمبران يې دروغجن کړل او ځيني يې ووژل،نو الله تعالى د بابل بادشاه بخت نصر وربانديې د عذاب په شکل مسلط کړو بيت المقدس ئې وران او دوى يې غلامان کړل) ثُمَّ بيا(تقريباً ٧٠ کلونه وروسته) تَابَ رحم وکړو

ٱللَّهُ الله تعالى عَلَيْهِمْ په دوی باندې(یعني بیا یې د دوهم ځل دپاره د بیت المقدس ښار ته ورسول او د دوی د هدایت دپاره یې پیغمبران ورولیږل) ثُمَّ بیا (د وخت په تیریدلو سره خراب شو،بالآخره الله تعالى ورته د هدایت دپاره عیسى علیه السلام راولیږلو،مګر بیا د حق د قبلولو دپاره) عَمُواْ ړانده وَصَمُّواْ او کانه شو كَثِيرٌ ډېر مِّنْهُمْۚ د دوی(یعنی د عیسی علیه السلام دعوت یې ونه منلو،او برسیره پر دې یې د هغه علیه السلام د وژلو سازش هم جوړ کړو،نوالله تعالى هغه علیه السلام ژوندئ آسمان ته بوتلو،او دوی یې د رومیانو په لاس تباه او برباد کړل) وَٱللَّهُ او الله تعالى بَصِيرٌۢ لیدونکئ دی بِمَا په هغه(اعمالو) يَعْمَلُونَ چې دوی یې کوي. ۷۱

لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَۖ وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ۷۲

لَقَدْ بیشکه كَفَرَ کافر شو ٱلَّذِينَ هغه(خلک) قَالُوٓاْ چې وایي إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ چې الله هُوَ همدا ٱلْمَسِيحُ مسیح ٱبْنُ ځوی مَرْيَمَۖ د مریم دی(یعنی څوک چې عیسی علیه السلام ته الله وایي،هغه کافر دی) وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ حال دا چې(پخپله) مسیح«علیه السلام) ویلي وو يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ چې ای بني اسرائیلو ٱعْبُدُواْ عبادت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالى رَبِّي چې رب زما دی وَرَبَّكُمْۖ او رب د ستاسو دی إِنَّهُۥ بیشکه شان دا دی مَن څوک يُشْرِكْ چې شرک کوي بِٱللَّهِ د الله تعالى سره فَقَدْ نو بیشکه حَرَّمَ حرام کړئ دی ٱللَّهُ الله تعالى عَلَيْهِ په هغه باندې ٱلْجَنَّةَ جنت (یعني حقیقت خو دا دی چې عیسى علیه السلام خو بني اسرآئیلو ته دا ویلې و چې د یو الله تعالى

عبادت او بندګي کوي،شرک ورسره مه کوئ،ځکه چې په مشرک باندې
الله تعالی جنت حرام کړئ دی) وَمَأۡوَىٰهُ او ځای د هغه(یعني مشرک)
ٱلنَّارُۖ اور دی وَمَا او نشته لِلظَّٰلِمِينَ ظالمانو ته مِنۡ أَنصَارٖ
(هیڅوک) د مرسته کوونکو څخه(چې د الله تعالی د عذاب څخه یې
خلاص کړي) ۷۲

لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖۘ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ وَإِن لَّمۡ
يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۷۳

لَّقَدۡ بیشکه كَفَرَ کافر شو ٱلَّذِينَ هغه (خلک) قَالُوٓاْ چې وایې
إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی ثَالِثُ دریم دی ثَلَٰثَةٖۘ د دریوو
نه(یعني هغه کافر دي څوک چې وایې چې الله تعالی د دریو د مجموعې
څخه یو دی،یعنې پلار،ځوی او روح القدس یا پلار، ځوی او مور)
وَمَا او نشته مِنۡ إِلَٰهٍ د عبادت(او بندګۍ) لایق إِلَّآ مګر إِلَٰهٞ
د عبادت لایق وَٰحِدٞۚ یو (الله تعالی ) دی وَإِن او که چیرته لَّمۡ
يَنتَهُواْ دوی نه منع کیږي عَمَّا د دې(خبرو نه ) يَقُولُونَ چې دوی
وایې(چې الله د دریو د جملې څخه یو دی) لَيَمَسَّنَّ (نو)خامخا به
وروړسیږی ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کفر کوي مِنۡهُمۡ د
دوی څخه(یعنې د نصاراوو یا کریسشنو نه چې څوک دا کفر وایې چې الله
د دریو د جملې څخه یو دی نو دوی ته به حتماً ورکول شي) عَذَابٌ
عذاب أَلِيمٌ دردناک(یعنی هغه خلک کافر دي چې وایې چې الله تعالی
د دریوو د مجموعې څخه یو دی،یعنی پلار،ځوی او روح القدس یا پلار
،ځوی او مور.نو که منع نشي،او بیا هم په دوی کې ځینې خلک دا خبرې
کوي نو الله تعالی به درد ناک عذاب ورکړي) ۷۳

أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۷٤

أَفَلَا يَتُوبُونَ آيا نو دوى توبه نه وباسې؟ إِلَى ٱللَّهِ الله تعالى ته
وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ ۚ او(آيا دوى) بخښنه (نه)غواړي د هغه(جل
جلاله)څخه(يعنې دوى ولې توبه نه وباسې او ولې دالله تعالى نه بخښنه نه
غواړي،ځکه چې الله تعالى ډېرزيات بخښونکئ او په خپلو بندګانو ډېر
مهربان دى) وَٱللَّهُ او الله تعالى غَفُورٌ بخښوونکئ رَّحِيمٌ
(او)رحم کوونکئ دى(سبحان الله . الله تعالى په خپلو بندګانو څومره ډېر
مهربانه دى،چې د دومره غټې ګناه سره-سره بيا هم بنده د توبې او بخښنې
خوا ته رابلې.) ٧٤

مَّا ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا
يَأْكُلَانِ ٱلطَّعَامَ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ثُمَّ ٱنظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ٧٥

مَّا ٱلْمَسِيحُ (خداى) نه دى مسيح عليه السلم ٱبْنُ ځوى مَرْيَمَ د
مريم عليهاالسلام إِلَّا مګر رَسُولٌ يو پيغمبر دى(د الله تعالى) قَدْ
بيشکه خَلَتْ تير شوي وو مِن قَبْلِهِ د هغه«عليه السلام» نه
مخکې ٱلرُّسُلُ (نور) پيغمبران(يعنې عيسى عليه السلام الله نه دى
بلکې د الله تعالى يو پيغمبر او بنده دى، چې د ده عليه السلام په شان نور
پيغمبران هم د ده څخه مخکې تير شوي دي) وَأُمُّهُۥ او د هغه(عليه
السلام) مور(يعنى مريم عليهاالسلام) صِدِّيقَةٌ ۖ ډېره رښتينې وه كَانَا
يَأْكُلَانِ (او د دوى په بندګۍ باندې دليل دا دى چې) دوى دواړو خوړلو
ٱلطَّعَامَ ۗ خوراک ٱنظُرْ وګوره كَيْفَ چې څنګه نُبَيِّنُ بيانوو
مونږ لَهُمُ هغوى ته ٱلْـَٔايَـٰتِ دلايل(د توحد.يعنى دا څومره لوى دليل
دى چې عيسى عليه السلام او مريم عليهاالسلام خواړه خوړل،مطلب دا
چې دوى خوړو ته محتاج وو،او که خوراک يې نه وو کړئ نو ژوند به
يې د لاسه ورکړئ وو يعنې مړه کيدل،حال دا چې احتياج او مرګ دواړه

د بنده صفتونه دي،الله تعالی د دې صفتونو څخه پاک دی،همیشه ژوندی دی،ټول مخلوقات الله ته محتاج دي او الله تعالی هیڅ چاته او هیڅ شي ته محتاج نه دی،فلهذا عیسی علیه السلام او مریم علیهاالسلام د الله تعالی بندګان وو،او عیسی علیه السلام د الله تعالی یو پیغمبر وو،نو د الله نسبت ورته کول پرته د شک څخه کفر دی.) ثُمَّ (خو د دې دومره قوی دلیل وروسته هم) بیا ٱنظُرۡ ورته وګوره أَنَّىٰ چې څنګه يُؤۡفَكُونَ دوی د حق څخه مخ اړوي(یعني نه د تورات او انجیل څخه،او نه کوم عقلي او ساینسي دلیل لرې،مګر بیا هم خپلو ځانونو ته دوکه ورکوي او وايي چې: نعوذبالله عیسی علیه السلام خدای دی ٧٥

قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا وَلَا نَفۡعًاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦

قُلۡ (مشرکانو ته) ووایه أَتَعۡبُدُونَ آیا تاسو عبادت کوئ مِن دُونِ ٱللَّهِ غیر د الله تعالی څخه مَا د هغه(څه چې الله تعالی پیدا کړي دي،هغه که پیغمبران دي،که نیکان او بزرګان دي،که قبرونه ،که تیږې او بتان دي او که نیچر یا طبعت دی،دا یو هم) لَا يَمۡلِكُ اختیار نلرې لَكُمۡ تاسو ته ضَرًّا د ضرر د رسولو وَلَا نَفۡعًاۚ او نه د خیر د رسولو وَ حال دا چې ٱللَّهُ الله تعالی(هغه ذات دی چې:) هُوَ هغه(جل جلاله) ٱلسَّمِيعُ ښه اوریدونکئ ٱلۡعَلِيمُ (او) ډېر پوه دي (ستاسو هره خبره اوري،په هر مشکل مو پوهیږي او درڅخه یې لرې کولئ شي،لیکن بیا هم تاسو الله تعالی پریږدئ او د الله تعالی مخلوق د هغه«جل جلاله» سره شریکوئ او عبادت یې کوئ،په داسې حال کې چې نه خیر درسولای شي او نه ضرر)

قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَا تَغْلُواْ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّواْ
مِن قَبْلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرًا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧

قُلْ (ورته) ووایه يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ آی د کتاب خاوندانو لَا تَغْلُواْ مبالغه(او زیاتوالئ) مه کوئ فِى دِينِكُمْ په خپل دین کي غَيْرَ ٱلْحَقِّ په ناحقه(یعني د خپل ځانه د انسانانو ښخه خدایان مه جوړوئ) وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ او پیروي مه کوئ أَهْوَآءَ د خواهشاتو(او غوښتنو) قَوْمٍ د هغو خلکو(یعني د هغو مشرانو چې:) قَدْ یقیناً ضَلُّواْ گمراه شوي و مِن قَبْلُ مخکي د(ستاسو ښخه) وَأَضَلُّواْ كَثِيرًا او دوی(یوازې دا نه چې په خپله گمراه و،بلکې دوی د ځان غوندې نور) ډیر خلک(هم) گمراه کړي دي وَضَلُّواْ او(د دې مشرانو خبرې مه منئ ځکه چې دوی گمراه(او بي لارې) شوي و عَن د سَوَآءِ سمې ٱلسَّبِيلِ لارې نه(نو که تاسو هم د هغوی په نقش قدم روان شئ چې دا کار مشرانو کړئ دی،نو په مشرانو کې خو سم هم و او بي لارې او گمراهان په کې هم و، نو که تاسو د گمراهانو مشرانو پیروي وکړئ ،نو تاسو به هم گمراه شئ ) ٧٧

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ
بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ٧٨

لُعِنَ لعنت شوئ دی ٱلَّذِينَ په هغو خلکو كَفَرُواْ چې کافر شوی دي مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ د بني اسرآئیلو نه عَلَىٰ لِسَانِ په ژبه باندي دَاوُۥدَ د داود علیه السلام وَعِيسَى او د عیسی علیه السلام ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ ځوی د مریم علیهاالسلام(په زبور او تورات کې په کافرانو لعنت هم ویل شوئ و،او داود علیه السلام او عیسی علیه السلام ورته ښیرې هم کړي وي،چې د چا ښخه شادوگان او د چا ښخه خنزیران جوړ شوي و)

ذَٰلِكَ دا (لعنت په دوى) بِمَا په دې سبب (شوئ و) عَصَواْ چې
دوى نافرماني كوله(د الله تعالى د احكامو نه) وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ او دوى
د(الله تعالى د حدودو نه)تيريدل. ٧٨

كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ٧٩

كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوْنَ (او په دوى د لعنت بل سبب دا وه چې) دوى به يو بل
نه منع كولو عَن مُّنكَرٍ د هغه ناروا كار نه فَعَلُوهُ ۚ چې دوى به كولو
هغه(ناروا كار.يعنى امر باالمعروف او نهي عن المنكر يې پريښې و،يو
بل د ګناه څخه نه منع كولو،يو به د بل سره د ګناه په محفلونو كې شركت
كولو،لكه نن صبا چې هم اكثره مسلمانان يو بل د ګناه څخه نه منع
كوي،او برسيره پر دې يو د بل سره د ګناه په مجلسونو كې شركت هم
كوي،مثلاً اكثره مسلمانان په غيرې اسلامې طريقو په هوټلونو كې ودونه
كوي،اكثره ناويګانې په غيرې شرعې غربې لباس كې چې د سر ويښتان
به يې ښكارې او د وجود هره پرزه به يې بيله-بيله معلوميږي،د شاوو
سره به لاس په لاس په ستيج كينول كيږي،يو به بل ته كيک په خوله كې
وركوي،خلک به ورته ګورې او چكې به ورته وهې،او سندرې،ډولونه او
باجې خو به دومره په زوركې غږيږي چې خلک به يو د بل خبرې نه
اورې،مګر په سوونو-سوونو راغلو،ښاغلو مسلمانانو ميلمنو كې به يو هم
نه وي چې واده والا ته ووايې چې دا كار بد دى،بلكې هر يو ښه په مړه
ګېډه ډوډۍ وخورې،او د ډمانو تماشا وكړې،او كه صبا ورځ يې خپل
ودونه شي،په همدې طريقه يې كوي څكه چې د مه او نه خو ځوک نشته
دى.امام احمد او ترمذي د حذيفه بن اليمان رضى الله عنه نه روايت كړئ
دى چې محمد «صلى الله عليه وسلم» وفرمايل:قسم په هغه ذات چې د
هغه«جل جلاله» په لاس كې زما نفس دى،تاسو به د نيكۍ حكم كوئ،او

د بدئ نه به منع کوئ،او که دا کار ونه کړئ،نو نزدې ده چې زر به الله
تعالی په تاسو باندې د خپل طرف څخه داسې یو عذاب نازل کړي چې:بیا
به تاسو د الله تعالی نه دعا غواړئ او الله تعالی به ئې نه قبلوي.) لَبِئْسَ
ډېر بد و مَا هغه(کار) كَانُواْ يَفْعَلُونَ چې هغوی کولو(یعنی ډېر بد و
هغه کار چې بني اسرآئیلو به کولو یعنې یو بل یې د بدئ څخه نه منع کول
یا په بل عبارت چې امر باالمعروف او نهي عن المنکر یې پرېښئ و.او
باید ووایو چې ډېر بد دی دغه کار چې اکثره مسلمانان یې کوي چې یو بل
د ناروا کارونو څخه نه منع کوي،او یو د بل سره د حرام او ناروا کارونو
په مجلسونو کې ګډون او کومک کوي. ۷۹

تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ
ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَـٰلِدُونَ ٨٠

تَرَىٰ ته به ګورې كَثِيرًا ډېر(خلک) مِّنْهُمْ د هغوی څخه يَتَوَلَّوْنَ
چې دوستې کوي ٱلَّذِينَ د هغو خلکو سره كَفَرُواْ ۚ چې کافران
دي(یعنې اکثره یهود او نصاری د مؤمنانو په مقابل کې د مشرکانو او
ملحدینو سره دوستې او یو د بل ملاتړ کوي،حال دا چې داسې باید
ونشي،یهود او نصاری باید د مشرکانو او ملحدینو په مقابل کې د
مسلمانانو ملاتړ او دوستان شي،او دا د دوی د فطرت غوښتنه ده ځکه
چې:د مذهب د اختلاف سره-سره په مجموع کې ټول یهود،نصارای یا
کریسشن او مسلمانان الله تعالی ، رسالت او وحې منې،خو تعجب
دی،یهود عجیبه خلک دي،هر کله چې د توحید او شرک جنګ شي،نو
یهود په ځای د دې چې د فطرت او دیني غوښتنې مطابق د مؤمنانو او
موحدینو سره همدردې او ملاتړ وکړي،برعکس د خپل دین او فطرت
خلاف د مشرکانو او ملحدینو سره خپله همدردې او ملاتړ کوي،لیکن که

دوی فکر کوي چې تیر شو هغه هیر شو،داسې نه ده،یو عمل هم نه ضایع کیږي، بلکې هر څومره اعمال چې انسان کوي د ده څخه مخکې آخرت ته لیږل کیږي او د قیامت په ورځ د همدې اعمالو د نتایجو په اساس جزا ورکول کیږي.نو هغه یهود او نصارى چې د ملحدینو او مشرکانو سره دوستې کوي نو ) لَبِئْسَ بیشکه چې ډیر بد دي مَا هغه(اعمال قَدَّمَتْ چې مخکې لیږلي دي لَهُمْ دوی ته أَنفُسُهُمْ نفسونو د دوی(ځکه چې د دې بدو اعمالو په سبب دوی د دې لایق دي) أَن سَخِطَ چې په غضب شي ٱللَّهُ الله تعالى عَلَيْهِمْ په هغوی باندې وَ او (داسې عذاب ورکړي چې) فِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ تل به دوی په عذاب کې وي. ۸۰

وَلَوْ كَانُوا۟ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَـٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَـٰسِقُونَ ۸۱

وَلَوْ كَانُوا۟ يُؤْمِنُونَ خو که چیرته دوی(یعنې یهود او نصاراوو) ایمان راوړی وو بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَٱلنَّبِىِّ او په پیغمبر«صلى الله علیه وسلم» باندې وَمَآ او په هغه(کتاب)باندې أُنزِلَ چې نازل شوئ دی إِلَيْهِ هغه(صلى الله علیه وسلم» ته(یعنې که دوی په تورات کې د نبي علیه السلام پیشګویۍ او صفتونه نه و پټ کړي، د تورات په احکامو یې عمل کړئ و،او په نبي علیه السلام او قرآنکریم باندې یې ایمان راوړئ و مَا ٱتَّخَذُو (نو) دوی به نه و نیولي هُمْ هغوی(یعنې مشرکان او ملحدین) أَوْلِيَآءَ دوستان وَلَـٰكِنَّ خو لیکن كَثِيرًا زیاتره مِّنْهُمْ د دوی فَـٰسِقُونَ فاسقان دي.(یعنې قصداً د پوهې سره د الله تعالى نافرمانې کوي او په نبي علیه السلام او قرآن باندې ایمان نه

راوړي،او د مسلمانانو په مقابل کې د مشرکانو او ملحدينو سره دوستې او ملاتړ کوي.) ۸۱

۞ لَتَجِدَنَّ يقيناً ته به ومومې أَشَدَّ ډېر سخت ٱلنَّاسِ د انسانانو څخه عَدَٰوَةً په دښمنۍ کې لِّلَّذِينَ د هغو(خلکو)سره ءَامَنُواْ چې مؤمنان دي ٱلْيَهُودَ يهوديان وَٱلَّذِينَ او (بل) هغه خلک أَشْرَكُواْۖ چې مشرکان دي(يعنې په دنيا کې په ټولو خلکو کې د مسلمانانو ډېر سخت دښمنان په اول نمبر کې يهوديان او په دوهم نمبر کې مشرکان دي ) وَلَتَجِدَنَّ او يقيناً ته به ومومې أَقْرَبَهُم نږدې د هغوی نه(يعنې په ټولو انسانانو کې نږدې خلک) مَّوَدَّةً په دوستۍ کې لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته ءَامَنُواْ چې مؤمنان دي. ٱلَّذِينَ هغه خلک دي قَالُوٓاْ چې وايې إِنَّا بيشکه مونږ نَصَٰرَىٰۚ نصارى يو (يعنې په ټولو انسانانو کې مؤمنانو ته په اعتبار د دوستۍ او ايمان راوړلو سره ډېر نږدې هغه خلک دي چې وايې:بېشکه چې مونږ نصارا يو) ذَٰلِكَ دا(دوستې) بِأَنَّ په دې سبب ده چې: بيشکه مِنْهُمْ بعضې د دوی څخه قِسِّيسِينَ عالمان دي (چې د دين زده کولو ته يې ځانونه وقف کړي دي) وَرُهْبَانًا اوعابدان دي(يعنې: بعضې د دوی نه زاهدان دي چې ځانونه يې عبادت ته وقف کړي دي) وَأَنَّهُمْ او بيشکه دوی لَا يَسْتَكْبِرُونَ تکبر نه کوي(د حق په منلو کې) ۸۲

ډاکټر محمد عثمان نظامی